أدع إلى سبيل ربك بالحكمة والموعظة الحسنة وجادلهم بالتي هي أحسن — الآيه

دعوت

دتوحيد او جهاد مجله

دافغانستان دجماعة الدعوة الى القرآن والسنة دافکارو خپرونکی

۲۲- گڼه



الهي فرمان

بسم الله الرحمن الرحيم

«انما المؤمنون الذين امنوا بالله ورسوله ثم لم يرتابوا وجاهدوا باموالهم وانفسهم في سبيل الله ط اولئك هم الصادقون ۝ قل اتعلمون الله بدينكم ط والله يعلم ما في السموات وما في الارض ط والله بكل شئ عليم ۝ يمنون عليك ان اسلموا ط قل لا تمنوا على اسلامكم ج بل الله يمن عليكم ان هديكم للايمان ان كنتم صادقين ۝»

(الحجرات- ۱۵-۱۷)

ترجمه: په حقيقت کې خو مؤمنان هغه دي چه پر الله او د هغه په پيغمبر ئې ايمان راوړى، بيا هغوى څه شك ونكړي او په خپلو مالونو او سرونو سره يې د الله په لاره کې جهاد وكړي، همغوى رښتيني خلك دي.

اى پيغمبره! (د ايمان دعو مدعيانو ته) ووايه، آيا تاسى الله ته د خپل دين خبر وركوى؟ بداسى حال کې چه الله د ځمکي او آسمانونو په هر څه باندى پوهيږى او هغه د هر شي علم لري. دوى پر تا احسان باروى چه دوى اسلام راوړى دوى ته ووايه د خپل اسلام احسان پر ما مه اچوئ بلکه الله پر تاسى احسان باروى چه هغه تاسى ته د ايمان لارښوونه وكړه که تاسى په رښتيا سره دخپل ايمان دعوه کې رينښتوني يې.

بسم الله الرحمن الرحيم

قل هذه سبيلي ادعو إلى الله على بصيرة أنا ومن اتبعني وسبحان الله وما أنا من المشركين

سورة يوسف (۱۰۸)

دعوت

دتوحيداو جهاد مجله

دامتياز خاوند: دافغانستان جماعة الدعوة الى القرآن والسنة

مؤسس: شهيدشيخ جميل الرحمن (رحمه الله)

سرپرست: الشيخ سميع الله

محلورم كال- پرله پسې گڼه (۲۲) د ۱٤۱۲ هـ ق كال دذى الحجى مياشت د ۱۹۹۲ كال د جون مياشت

ددې گڼې مطالب

احمد شاه ((وحدت)) Ahmad Shah (Vahdat) A. K. Pi. O.

(عنوان)	(مخ)
* سرمقاله	۲
* تعليمات اسلامي	٦
* علوم القرآن ته يوه كتنه	
* عقيدوي بحثونه	۱۳
* د امام بخاري رحمه الله ژوند ته يوه كتنه	۱۷
* دښمن موو پيژني	۲۱
* زما ارمان (شعر)	۲۵
* د قرباني مينار (شعر)	۲٦
* غورمو ينا وي	۲۷
* د حق ناوي (شعر)	۳۰
* د الله دين دگا اسلام دى (شعر)	۳۱
* په اسلام كې د كفارو سره دمعاهدو څرنګوالي	۳۲
* په زړه باندې د گناهونو اغيزه	۳٦
* اسلام د بې طرفه كافرانو سره څه چال چلن كوي	٤۰
* له محترم حاجي حيات الله سره مركه	٤٤
* ستاسو پوښتنې د قرآن او حديث په رڼا كې	٤۷
* دليكونو بهير	٥۱

دهيئت تحرير تر نظارت لاندې

په پاكستان اونورو بهرنيو هيوادونو كې زمونږ نمايندګان

په داخل كې: لعل محمد «افسوس»

اسلام آباد: عفيف احمد

پيښور: غنى الله «مسلم»

لاهور: حماد شاكر

كراچي: چوهدري ظهور احمد

كوئټه: عرفان منگل

مظفر آباد: بشير قريشي

سعودي عرب: فيضان الله

امريكا: عبدالرحمن احمد

بريطانيا: منور على

جرمني: وائي - ايم حميم

هالينډ: عماد الدين بكري اسماعيل

دانشتراك وجه:

په پاكستان كې
مياشتنى گډون: ۱۰ كلداري
كلنى گډون: ۱۰۰ كلداري

په نورو بهرنيو هيوادونو كې
مياشتنى گډون: ۲ امريكائي ډالر
كلنى گډون: ۱۰ ډالر

مكاتباتي پته: «دعوت مجله» - پوست بكس نمبر ٦۱٤ پشاور پاكستان

بانكي حساب: جماعة الدعوة الى القرآن والسنة - اكاونټ نمبر ۱۹٤٦٥ - حبيب بينك كينټ - صدر روډ - پشاور.

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

په کابل کې دقدرت انتقال

دادی هغه مبهمه ډرامه پای ته ورسیده او هغه معما حل شوه چه دتیرو دوو میاشتو په موده کی دلویدیځ د نشراتی او پروپاګنډی دستګاؤله خوا دسر ورکی ماشوړی په نوم یادیده او هغه عبارت وه په کابل کی په سوله ایز ډول دقدرت انتقال.

زمونږمجاهد ملت چه دخپل څوارلس کلن جهاد په اوږد مسیر کی ئی په نړیواله سویه دکمونیزم طاغوت ته ماتی ورکړه او په افغانستان کی ئی دلادینیت او الحادنوغی د آبد له پاره له جرړی وویست، بیله شکه ددی توان او قدرت هم لری چه په خپل هیواد کی داسلام پرتمین انقلاب دبریالیتوب پړأو ته ورسوی او هغه دسیسی او توطئ ناکامی کړی چه داسلامی انقلاب دبریالیتوب په لومړیودوو میاشتو کی د پخوانی ملحد رژیم بقایاؤ، او د مذهبی،قومی او سمتی تعصب ډنډورچیانو ترلاس لاندی نیولی وی او غوښتل ئی دافغانستان دمسلمانانو د امیدسترګی چه دمجاهدینو دفاتحانه ورتلو او په هیواد کی د اسلامی حکومت دتأسیس لوری ته ئی نیولی دی دحسرت له خاورو ډکی کړی.

دافغانستان مسلمان ولس او ټول جهادی قوتونه له اسلامی حکومت څخه ددفاع او ملاتړ په خاطر دنوی اسلامی اداری له مشرتابه څخه هیله کوی چه اسلامی انقلاب ته دقدرت او صلاحیت دفقدان له اوسنی طوفان څخه نجات ورکړی او داسی یوی سالمی اسلامی اداری ته

دچارو واگی وسپاری چه ټول جهادی ځواکونه پکی برخه ولری او وکولی شی چه دزوریدلی او کړیدلی ملت ټولو غوښتنو ته مثبت ځواب ووائی.په هیوادکی دامنیت او بی ثباتئ دنشتوالی مسأله حل کړی، انقلاسیون له منځه یوسی، دافغانستان سیاسی استقلال، دخاوری تمامیت،اسلامی تشخص او یو موټی توب حفظ کړی او دکابل له ښارڅخه دمسلحوډلګیوهغه بی شمیره حکومتونه چه نن سبا په هر واټ ، هره کوڅه او هردولتی عمارت باندی تسلط لری له پښیو غورزوی او دښار دامنیت چاری دمجاهدینو مشترك ځواك ته وسپاری.

دکابل په ښارکی دشیعه ډلو نارامی او هره ورځ د کابل د ښار یانو سوله ایز ژوند ګډوډول او په کابینه او دمجاهدینو په شوراګانو کی د نامعقول سهم غوښتنه هغه ستر چیلنج دی چه دافغانستان په کورنیو چارو کی د ایران دمستقیمی او بربنډی لاس وهنی له امله ورسره نوی اسلامی مشرتابه مخامخ دی چه که په لومړئ مرحله کی ورسره جدی معامله ونشی، وروسته به ددغو شریرو او مفسدوعناصرو مهارول په ګرانه بیه پریوزی.

ترهغه وخته چه بی بندوباره مسلح ځواکونه تش لاسی شوی نوی او د پردیو هیوادو(ایران او روس) وسلی ورڅخه اخستل شوی نه وی، دبی ګناه خلکوله مرګو ژوبلو څخه ددوی دلاس وتلو، د کابل په ښار کی دلوټ مار او قتل او تروړو مخنیوی امکانات ډیر کم دی او نوی اسلامی حکومت به له سختو کړاوونو سره مخامخ کړی.

اسلامی حکومت باید په هیواد کی دبهرنئ لاس وهنی او دخارجی هیوادو له خوا د افغانستان دخینو لاس پوڅو ډلو دمسلح کولوپه خلاف رغنده دریځ غوره کړی او د یوی سالمی خارجی پالیسئ په طرح کولوسره له خارجی هیوادو څخه په کلکه غوښتنه وکړی ترڅو په افغانستان کی ناوړه لاس وهنی ونه کړی البته دافغانستان دنوی جوړښت لپاره باید داسلامی

او دوستو هیوادو بلاقید اوشرط مرستی جلب شی.

دمقدس جهاد داوړدی پروسی دسوونو زرګونو شهیدانو کورنئ او بی شمیره معیوبین له نوی اسلامی حکومت څخه زیات امیدونه لری چه باید ددوئ دژوند د بسیاتوب لپاره ګټور قدمونه واخلی.

نوی قیادت باید دهیواد ددغو ټولو ستونزو دحل لپاره دټولو جهادی څواکونو حمایت او ملاتړ ترلاسه کړی او هغوی ته په جهادی اوقیادی شوراګانو کی دجهادی قوت او سابقی په تناسب ځای ورکړی شی .

مونږ پوهیږو چه دهیواد داوسنیو ټولو ستونزودهواری لپاره دمحترم استادربانی د تصدی لنډه دوره کفایت نه کوی او امکان نه لری چه دځوارلس کلنی اوږدی جګړی د زیلی هیواد مشکلات په څو میاشتو کی حل وفصل شی، خو له دی یادونو څخه زمونږهدف دادی چه نوی اسلامی قیادت به دحکومت اداری دستګاه په داسی مسیر روانه کړی چه په راتلونکی کی ورڅخه دانحراف او سرغړونی امکانات موجودنه وی او راتلونکی زعامتونه وکولی شی چه داوسنئ تګ لاری په رڼاکی دهیواد دنوی جوړښت لپاره ګټورګامونه پورته کړی.

پدی کی شك نشته چه مجاهدینو ته د افغانستان د حکومت واګی سپارل یو آزمیښت دی چه مجاهدین پکی مبتلاءدی. دنیا دی ته ګوری چه آیا هغه څوك چه دجهاد ترشعار لاندی قدرت ته ورسی پدی قادر دی چه یوه اسلامی اداره قایمه کړی؟ داسلام د دشمنانو پیشبینی دا ده چه باید داسی شخصیتونه حکومت جوړ کړی چا چه د غرب په مدرسه کی سبق ویلی دی اویوازی همداسی خلك د حکومت کولو مستحق ګڼی. هغه خلك چه یی څوارلس کاله دجهاد په مدرسه کي سبق ویلی دی هغوی ته د ناأهلۍ په سترګه ګوری نن همدغه شخصیتونه د

آزمیښت په ډگر کی واقع دی ددوی اهلیت د آمتحان په معرض کی واقع شوی دی.مونږ معتقد یو هغه ملت چه یو نړیوال استکبار تس نس کولی شی ددی توان لری چه خپل هیواد اداره کړی مگر دا څه ته ضرورت لری؟

دا یو قوی اتحاد ته ضرورت لری چه ټول جهادی قوتونه باید خپل منځی اختلافات شاته وغورځوی، ذاتی، گوندی، مذهبی، قومی، نژادی مصالحو ته شا کړی او د یو مسلمان ملت په حال رحم وکړی. د صمیمیت او وروروگلوۍ فضاء را منځته کړی او دنیا ته ثابته کړی چه مجاهدین ددی توانایی لری چه خپل ملك اداره کړی.مونږ له ټولو جهادی مشرانو څخه کوم چه په کابل کی دننه دی او هغه چه باهر دی، په کلکه غوښتنه کوو چه بالآخره خپل اسلامی مسؤلیتونه درك کړی او په پوره اخلاص ددی مسلمان ملت د دردونو او زخمونو په تکوررولو شروع وکړی، اوس ددی وخت دی چه د ملیونونو یتیمانو غم وخوړل شی، د لکونو معیوبینو زخمونه تداوی شی او د در په در مهاجرینو د واپسۍ لپاره پروگرامونه جوړ شی.نور ددی عذر نه دی پاتی شوی چه د گوند په نوم قوتونه او لیواءگانی جوړی شی او هغه عناصر معزز کړای شی کوم چه باید ذلیل وی.

جماعة الدعوة الی القرآن والسنة افغانستان چه د جهاد او دعوت جماعت دی لا پخوا په نیکیو کی د اسلامی حکومت ملاتړ اعلان کړی، اوس هم په برّ او تقویٰ کی خپله مساعی نه سپموی او د اسلامی حکومت په استقراراود مسلمان افغانستان په جوړښت کی هر قسم قربانۍ ته آماده دی او د اسلامی دولت نوی مشرتابه لپاره دالله تعالی په دربار کی د پورتنی اهدافو په تحقق دعا کوی.

(ومن الله التوفیق)

بحثی پیرامون کلمه طیبه لااله الاالله

بخش دوم

گوینده کلمه لااله الاالله ازگناهان پاك نگهداشته میشوه:

یکی از مزایای عمده کلمه طیبه اینست که گوینده آن وعمل کننده بران ازگناهان و معاصی پاك نگهداشته میشود و مغفرت وآمرزش نصیبش میگردد. پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم می فرماید:

ان الله تبارك وتعالى عموداً من نور بين يدى العرش فاذا قال العبد لااله الاالله اهتتزذلك العمود فيقول الله تبارك وتعالى اسكن فيقول كيف اسكن ولم تغفر لقايها فيقول انى قد غفرت له فيسكن عند ذلك.

(بزاز- ترغیب)

ترجمه:ستونیست ازنور درمقابل عرش الله تعالی، حینیکه یکی از بندگان الله تعالی کلمه طیبه لااله الاالله راقرئت میکند این ستون نورانی به جنبش وحرکت درمی آید، الله تعالی خطاب به ستون می فرماید حرکت مکن وبرجای خود بایست، ستون عرض میکند تازمانی که گوینده این کلمه طیبه مورد آمرزش قرار گیرد جهت سفارش وی به آستانه مقدس الهی در اهتزاز خواهم بود. پس خداوند متعال می فرماید من گوینده کلمه طیبه رامورد عفو وامرزش قرار دادم. پس ستون مذکور برجایش ساکن میگردد.

کلمه طیبه وشجره طیبه:

کلمه طیبه درمتن قرآن عظیم الشان با درخت پاکیزه تشبیه گردیده وذات اقدس الهی میفرماید:**الم تركيف ضرب الله مثلاً كلمة طيبة كشجرة طيبة اصلها ثابت وفرعها فى السماء توتى الكها كل حين باذن ربها ويضرب الله الامثال الناس لعلهم يتذكرون○ومثل كلمة خبيثة كشجرة خبيثة اجتثت ت من فوق الارض مالها من قرار.يثبت الله الذين امنو ا بالقول الثابت فى الحيوة الدنيا وفى الاخرة ويفعل الله الظالمين ويفعل الله مايشا ء** « سوره ابراهیم »

ترجمه:(ای محمدصلی الله علیه وسلم) آیا ندیدی که الله چه مثالی رابیان نمود که کلمه طیبه مانند درخت مطهریست که اصل وبیخ آن ثابت ومستحکم بوده شاخهایش تا آسمان گسترده باشد، مطابق دستورخدا هر وقت باردار می گردد وخداوند مثالها رابرای مردم ابرازمی فرماید تابیاد شان باشند ومثال سخن هرزه وناپاك همچون درخت هرزه ایست که از روی زمین برکنده شده وبدور افگنده شده باشد و ثبات و استحکامی برایش نباشد، مؤمنان را خدا وند متعال در زندگی دنیوی واخروی بر سخن ثابت و استوار نگهمیدارد وستم کاران رادر

گودال گمراهی سقوط می دهد والله تعالی طبق اراده اش عمل میکند و او تعالی مالك ومختاراست.متن حديث هدف کلمه طیبه را لااله الا الله محمد رسول الله وانمود ساخته است.حاصل مثال اینست که کلمه طیبه مانند درختیست که واجد چهاروصف آتی الذکر باشد:

۱- در تشکل وصورت، لذت و طراوت، نفع سایه و ... عمده باشد.

۲- بیخ و بنش مستحکم باشد.

۳- شاخها و فروعاتش بلند و گسترده باشد .

٤- برای آبد بارداروثمر بار باشد و شرایط جوی برآن تاثیری نداشته باشد. این گونه درخت از عمده ترین درختان می باشد، کلمه طیبه نیز مانند همین گونه درخت است وچهار وصف فوق الذکر را حاوی میباشد:

۱- لذت وکیفیتش را میتوان از ذواتی پرسید که قلوب شان به ذکر الهی مطمین اند .

۲- کلمه طیبه کلمه حق است و صداقت زوال ناپذیر است. این کلمه نور است و بنیاد نور در نفوس قدسیه ثبت ودرج است که وسوسه های شیطانی وهوی وهوس نمیتواند آنرا خاموش سازد.

۳- شاخهای کلمه طیبه به مراتب بلند تراست که تا عالم قدسی گسترانیده شده واعمال نیکو و اقوال راستین از فروعات آنست و این شاخهاو فروعات توسط فرشته ها هر روزصبح وشام به آستانه قدس الهی رسانیده میشود، رسیدن تا ایمان و یقین وحقیقت و معرفت نیز از فروعات آنست که در فضا پهن شده خلاصه اینکه همه گیتی در پرتو شاخهای این کلمه قرار دارد .

٤- این درخت مطهر برای آبد ثمر بارمیباشد، میوه های کلمه طیبه در دنیا نیز بدسترس شایقین میرسد و در آخرت نیز میتوان از آن مستفیض شد. برکت در رازق، افزایش دولت و ارتقای عزت، حکومت وعروج وترقی ازثمرات دنیوی این کلمه متبر که میباشد، الهامات نفسانی، کشفیات و انکشافات مختلفه، دانستن به حقایق عالم و پی بردن به اسرارنهانی وظهور انوارتجلی از ثمرات روحانی آن بشمار میرود. بعد از قیام رستاخیز ورود به بهشت و بدست آوردن لذات و نعمات آن ولقاء پروردگارعالمیان ثمره اخروی آن میباشد.گویندگان کلمه طیبه از وحشت قبردرایمن میباشند پیامبراکرم رهبر بشریت صلی الله علیه وسلم می فرماید:

لیس علی اهل لا اله الاالله وحشة فی قبورهم ولامنشرهم وکانی انظرالی لا اله الاالله ینفضون التراب عن رؤسهم ویقولون الحمد لله الذی اذهب عناالحزن وفی روایة لیس علی اهل لا اله الاالله وحشة عند الموت ولاعند القبر .

(طبرانی، بیهقی، ترغیب)

ترجمه:گویندگان وذاکرین کلمه طیبه لااله الاالله نه در قبورشان احساس ترس ووحشت می نمایند ونه در روز رستاخیز سراسیمه میشو ند، من این گونه اشخاص رامشاهده میکنم که ازقبورشان بیرون می آیند ، سروروی شان مرتب می سازند و میگویند خداوندبزرگراسپاس گزاریم که از رنج و آلم نجات مان داد .

همچنان معلم بشریت پیامبر بزرگوار اسلام فرموده اند که لا اله الا الله از بهترین اذکاروالحمد لله از بهترین دعاهاست

شفاعت پیامبرصلی الله علیه وسلم:

آنانیکه این کلمه را از صمیم قلب ورد نماید پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم به روز رستاخیز از وی به بارگاه الهی شفاعت خواهدنمود:ارشاد رسالت مآب است:

اسعد الناس بشفاعتی یوم القیامة من قال لااله الا الله خالصامن قلبه ونفسه (بخاري)

نجات ازجهنم:

از حضرت ابو هریره رضی الله عنه روایت است که رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: کلمه طیبه لا اله الا الله رابکثرت بخوانید قبل ازینکه حایل مرگ بین شما وکلمه طیبه قرار گیرد. آنانیکه هنگام جان دادن این کلمه رابخواند وبمیرد انشاء الله وارد بهشت میگردد وآتش جهنم بروی حرامست.

(ترغیب وترهیب)

همچنان رسول الله صلی الله علیه وسلم می فرماید: کسیکه کلمه طیبه را از صمیم قلب بخواند برایش درهای آسمان بازمیگردد واین کلمه تاعرش الهی میرسد مشروط برینکه موصوف از ارتکاب گناهان کبیره اجتناب نموده باشد.

پیامبر بزرگوار اسلام ازقول خداوند متعال می فرماید:

اخرجوا من النار من قال لااله الاالله وفی قلبه ذرة من الایمان اخرجوا من النار من قال لا اله الاالله او ذکرنی اوخافنی فی مقام.

(حاکم)

ترجمه: ازجهنم بدرش کنید کسیرا که گفته باشد لا اله الا الله درحالیکه شمه ای از ایمان درقلبش موجود باشد.

از جهنم بدرش کنید کسیرا که گفته باشد لا اله الاالله، یا بیا د من مصروف بوده و یا ازمن خوف میداشت.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: شخصیکه این کلمه طیبه:

لا اله الاالله واحداً احداً لم یتخذ صاحبة ولا ولداً ولم یکن له کفواً احداً، راده بار بخواند برایش چهل هزار نیکی درج میگردد.

(مسند احمد)

اسم اعظم:

رسول الله صلی الله علیه وسلم می فرماید: شخصیکه با اسم اعظم به بارگاه الهی دعا کند پذیرفته میشود. حضرت اسماء بنت یزید روایت می کند رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود که اسم اعظم خداوند در یکی ازین دو آیة متبرکه مضمراست:

۱-والهکم اله واحد لا اله الا هوالرحمن الرحیم

۲-الم ○ الله لا اله الا هوالحی القیوم.

حضرت عبدالله بن بریده از پدرش روایت می کند که پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم از شخصی این چنین دعا راشنیده فرمود کسیکه خداوند متعال را باین اسم بخواند، خواسته اش برآورده میشود دوعایش پذیر فته میشود، دعا حسب ذیل است:

اللهم انی اسئلك اشهد انت الله لا اله الا انت الاحد الصمد الذی لم یلد ولم یولد ولم یکن له کفواً احد.

(ابوداود- ترمذی)

ومهمتر اینکه اساس وبنیان اسلام بر کلمه طیبه استوار است، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود:

بنی الاسلام علی خمس شهادة ان لا اله الا الله وان محمد عبده ورسوله واقام الصلوة وایتاءالزکوة وحج البیت وصوم رمضان والجهاد والصدقة من العمل الصالح.

ترجمه: بنیان اسلام برپنج ستون استوار است: گواهی دادن برینکه نیست هیچ معبودی بجز الله ومحمد بنده الله ورسول او میباشد. ۲- نماز، ۳-زکوة، ٤-حج بیت الله ٥- روزه داشتن ماه رمضان. و جهاد و صدقه از اعمال نیکو میباشد.

علوم القرآن ته یوه کتنه

الهی کتاب قرآن کریم

د حبیب الله «رحیق» لیکنه

دقرآن کریم په هکله تراوسه په زرگونو کتابونه او رسالی لیکل شوی اودقلم خاوندانو دخپل استعداد په اندازه پدی هکله لیکنی کړی دی او که څوك دا کتابونه وگوری نو داسی فکر به وکړی چی نور نو د قرآنکریم د بیان او پیژندنی لپاره څه لیکنی ته حاجت نشته.

خو داسی نه ده ځکه قرآنکریم دالله تعالی آخری کتاب دی او دابه دتل دپاره ترڅو قیامت قائمیږی د انسانانو، پیریانو په تیره بیا د مسلمانانو لپاره قانون او د دنیا او آخرت دسعادت وسیله او مرجع وی او معارف به یی خلاص نه شی.

دا هغه کتاب دی چه په حضرت سیدالبشر محمد صلی الله علیه وسلم نازل شوی دی، له نازلیدو سره یی د فصاحت اوبلاغت اربابانو او خاوندانو ته چلنج ورکړ چی دقرآن په شان دی لږ ترلږه دری آیته جوړکړی، اما هغوی ترینه عاجزشول او همداسی به دتل لپاره ترینه عاجزوی.

قرآنکریم هغه حجة الله البالغه دی چی زمونږ ددین په عقایدو، عباداتو، حکمو،احکامو،ادابو،اخلاقو، قصصو، مواعظو او نورو علومو کی به د ټولو خلکو لپاره په دنیا او آخرت کی د هدایت او سعادت منبع وی.

قرآن کریم هغه الهی منشوردی چه له حضرت آدم علیه السلام نه نیولی تر حضرت محمدمصطفی صلی الله علیه وسلم پوری چه څومره کتابونه نازل شوی د هغو خلاصه پکی موجوده ده.

دا کتاب دعالم بشریت لپاره یو قانون اولاربښونکی دی چی دهغوی ټول مشکلات او ربړونه دهمدی مبارك قانون په رڼا کی حل کیږی، په سیاسی، اجتماعی، اداری، ثقافتی او نورو برخو کی پوره او روښانه قوانین لری. قرآنکریم هغه الهی روښانه ډیوه ده چه په پاکه عقیده، شریعت او اخلاقو محتوئ ده او دټولنی نه هر ډول ظلم، مطلق العناني،جهل، بی عدالتی، فساد او ضرر دفع اود ټولنی دوگړو په مینځ کی ښه علایق ټینگوی او لکه چه مو ووېل دا ټول په هغی پاکی عقیدی بنادی چه انسان ډیر لوړ مقام ته رسوی او د ترغیب او ترهیب په اسلوبو بشر په مستقیمه لار روانوی.

قرآنکریم دهغو جاهلو اوکوچی عربو په منځ کی علایق ټینگ کړل، الفت یی پکی واچاوه او هغوی یی سره ورونه وگرځول چه جهالت او ظلم یی په تاریخ کی ساری نلری، له هغی جملی څخه د «اوس» او«خزرج» قبیلی وی چه دځینو مؤرخینو دقول مطابق یوسل اوشل کاله بدی یی سره لرله.

داهغه مبین کتاب دی چه انسانیت

له تیارو اوظلمتونو نه خلاصوی او روښانې او مستقیمی لاری ته یی هدایت کوی الله تعالی فرمائی:

قد جاءکم من الله نور وکتاب مبین یهدی به الله من اتبع رضوانه سبل السلام ویخرجهم من الظلمات الی النور باذنه ویهدیهم الی صراط مستقیم (المائدة)

ترجمه: په تحقیق سره راغلی ده تاسوته له طرفه دالله تعالی رڼا او کتاب بیانونکی چه لاره ښیئ الله تعالی په دی کتاب سره هغه چاته چه تابعداری کوی درضامندۍ ددی لاری د سلامتیا اوباسی دوی له تیارو (دجهل)نه رڼا(علم)ته په ارادی خپلی سره اولاره ښیئ دوئ ته هغه سمه لاره.

داکتاب چه دحضرت محمدمصطفی صلی الله علیه وسلم په نبوت روښانه دلیل دی په هره زمانه او ځای کی د تطبیق وړ او انسانان او نور عالمیان به ددی مبارك کتاب تعلیماتو ته محتاج وی او دهغوی دنیکمرغۍ اسباب به رامنځ ته کوی.

د الله تعالی په پخوانیو کتابونو کی تحریفونه شوی لیکن دقرآن کریم د حفاظت وعده په خپله الله تعالی کړیده الله تعالی فرمائی:

انا نحن نزلنا الذکر وانا له لحافظون()»

ترجمه: بیشکه مونږ نازل کړیدی ذکر(قرآنکریم)او بیشکه مونږ دده ساتونکی یو.

احمد شوقی وایی:

جاء النبیون بالایات فانصرمت
وجئتنا بکتاب غیر منصرم.
ایاته کلما طال المدی یزینهن
جمال العتق والقدم.

ترجمه: نبیان علیهم الصلوة والسلام خپلو امتونو ته له داسې معجزو سره راغلل چه له دوی سره ولاړی،ته(محمدعلیه الصلوة والسلام) مونږ ته له داسی کتاب (معجزی)سره راغلی چه تلونکی نده،هر وخت چه دده په آیاتو کی نظر زیاتوی د دوی زیات جمال ښکاره کوی او دخلکو په زړوکی ځای نیسی.

نوکه په زرگونو لیکنی نوری هم وشی او همداسی جاری وی دقرآنکریم دکلماتو شرح او توضیح به پای ته ونه رسیږی.

الله تعالی فرمائی:

قل لوکان البحر مدادا لکلمات ربی لنفد البحر قبل ان تنفد کلمات ربی ولو جئنابمثله مددا () (الکهف-۹ ۷)

ترجمه: ووایه که زما درب د کلماتو دلیکلو لپاره درباب سیاهی شي نو وړاندی له دی چه زما درب کلمات پوره شی درباب به وچ شی که څه هم ددریاب په اندازه نوره سیاهی راـ وړل شی.

خو څرنگه چه پدی کتاب ځان پوهول او وړاندی عمل کول یوه لازمی وجیبه ده چه دنیوی او اخروی نجات پکی نغښتی دی او په همدی واسطه له خپل رب سره ارتباط پیداکوی او دهغه قرب حاصلوی او الله تعالی له هغو کسانو سره چی دوی په قرآن کریم پوهیدلی، ایمان یی وړاندی راوړی او عمل یی کړی وعده کړی چی دوی به په مځکه کی خلیفه گرځوی او په ورځ دآخرت به جنتونه ورکوی. الله تعالی فرمایی:

وعدالله الذین امنوا منکم و عملوا الصلحت لیستخلفنهم فی الارض کما استخلف الذین من قبلهم ولیمکنن لهم دینهم الذی ارتضی لهم ولیبد لنهم من بعد خوفهم امنا یعبدوننی لایشرکون بی شیئا () (سورة النور-۵۵)

ترجمه: وعده کړیده الله تعالی له هغو کسانو سره چه ایمان یی راوړی له تاسی نه او عملونه یی کړیدی دنیکۍ چه خامخا به خلیفه گان کړی دوی په ځمکه کی لکه چی خلیفه گان کړی وو هغه کسان چی پخوا له دوی نه وو او خامخا به ثابت کړی دوی لره دین ددوی هغه دین چی غوره کړی دی الله دوی

لره او خامخا به دوی ته د ویری په بدل کی امنیت ورکړی شی عبادت به کوی دوی زما شریك به نه نیسی دوی زماسره هیڅ شی.

حضرت محمدصلی الله علیه وسلم تر ټولو زیات په قرآن کریم پوهیده اوبیادده په واسطه صحابه کرام رضی الله عنهم وو چه دقرآن کریم په هر هدایت به یی عمل کاوه اودهغه د تطبیق لپاره هر ډول سرښندنی ته چمتو وو.

همدا وجه وه چه الله تعالی دوی بهتره دټولو امتونو او دهمدی وعدی مصداق وګرځول.

په اوسنیو حالاتوکی چه د افغانستان باتورولس دهمدی قرآن مجید په حکم داسلام او انسانیت ددښمنانو (روسانو) او دهغوی دتالی څټو افغان نما روسانو په ضد بریالی وسله وال جهاد سر ته رسولی دقلم په خاوندانو دالازمه ده لکه چه په سنګرکی ئی جهاد کړی همداسی قلم هم کرار پرینږدی او خپل مسلمان ولس ته دقرآنی تعلیماتو په رسولو کی نه ستړی کیدونکی هلی ځلی وکړی.

الله تعالی فرمایی:

إن هذا القرآن يهدى للتى هى اقوم ويبشر المؤمنين الذين يعملون الصلحت أن لهم اجراً كبيرا

(بنی اسرئیل)

ترجمه: بیشکه چی دا قرآن هغه لاره ښیئی چه هغه ډیره سمه ده او لکه چی الله تعالی ددی کتاب په برکت زمونږ دمجاهدینو په لاس د روس په شان ستر کفری مادی طاقت ته ماتی ورکړه او زمونږ اسلامی انقلاب د کامیابۍ پړاوته ورسیدهمداشان به زمونږ وروستی بریالیتوبونه او د اسلامی انقلاب ساتنه د قرآنکریم په ارشاداتو باندی د پوره عمل کولو په صورت کی ممکن وی او بس.

په همدی ملحوظ ماهم خپل ګوډ- مات قلم راواخیست، ترڅو د علوم القرآن د مباحثو لکه دقرآن معنی، ضرورت، نزول، ترتیب، جمع، کتابت، قرئت،تفسیر، اعجاز، ناسخ او منسوخ اوداسی نورو په هکله څه ناڅه ولیکم.

له الله تعالی نه توفیق غواړم ترڅو دا نیك عمل پوره کړم او د ګټی وړشی او زما تقصیر راوبخښی.قرآنکریم همیش زمونږ لپاره دهدایت منبع، د صدورو شفاء او د اخلاقو احوالو او ارواحو مربی وګرځوی او په خپل فضل سره له مونږ نه راضی شی.امین!

دعلوم القرآن معنیٰ:

دعلوم القرآن دتعریف او توضیح په هکله علماءکرامو په هراړخیزه توګه تحقیق کړی اودامرکب اضافی یی په ډیر تفصیل سره شرحه کړی، چه زه یی مختصراً لیکم:

۱-علوم: جمع دعلم ده اوعلم په لغت کی مصدر دی او مرادف دفهم او معرفت.دحکماؤ په نظر:**(العلم) صوره الشیء الحاصلة فی العقل اوحصول الصوره فی العقل او:تعلق النفس بالشی علی جهة انکشافه.**

یعنی علم صورت (مفهوم) دیوه شی دی چه حاصل شی په عقل کی او یا حصول دصورت دی په عقل کی اویا تعلق دنفس دی په یوه شی پوری دهغه د انکشاف لپاره.

د متکلمینو په نظر:**(العلم) بانه صفة يتجلى بها الامر لمن قامت به.**

یعنی علم یو صفت دی چی روښانه کیږی پده یوشی، هغه چاته چی هغه شی ورسره تعلق ونیسی.

او یا**(العلم) هو ظاهر لنفسه مظهر لغيره.**

*یعنی علم ظاهر کوونکی دی خپل ځان لره اومظهردی غیر دده لره .

دشرع عام تعریف:دعلم اطلاق دالله تعالی دهغو ایاتو او د هغو افعالو په معرفت کیږی چه په بندګانو او مخلوقاتو پوری تعلق نیسی.

امام غزالی رحمة الله علیه په خپل احیاءالعلوم کی وایی:

*په تحقیق سره دعلم اطلاق پدی کیده چه علم عبارت دی له معرفت د الله تعالی، معرفت دآیاتونو دده او معرفت دافعالو دالله تعالی چه له بندگانو او مخلوقاتو سره تعلق نیسی. وروسته پدی تعریف کی تصرف وشو، ان تردی چه فقهی مناظری ته هم علم وویل شو.

علم دتدوین او فن له نظره:

دعلوم القرآن دفن دعلماؤ له نظره علم په اصطلاح کی هغو منضبطو او مرتبو معلوماتو ته وایی چه په یوه جهت پوری اړه ولری، پدی معنیٰ چی که په وحدت دموضوع کی منضبط وی او که په وحدت دغایی او هدف کی یي جهت یووی ، لکه څوك چه ووایی: « **تعلمت علماً من العلوم وموضوع العلم كذا** ».

یعنی یو علم می زده کړ چی موضوع یی داسی وه.

۲-دقرآن لفظ:الله تعالی دخپل کتاب او وحی لپاره نوی نومونه انتخاب کړل چی دعربو له هغو تسمیو سره مخالف وو، کوم چی به نی خپل کلام ورباندی یاداوه.

دقرآنکریم دوه نومونه ډیر مشهور دی: یو«الکتاب» او بل «القرآن» دی او په الکتاب سره یی ځکه تسمیه وشوه چی کتاب اشاره ده دقرآنکریم جمع کولو ته په سطورو (لیکلو) کی او همدارنگه په قرآن کی اشاره ده حفظ کولو دقرآن ته په صدورو کی، ځکه چی قرآن مصدر دقرائت دی او په قرائت کی استحضاروی.

نو قرانکریم لکه نور کتابونه یواځی په لیکنو کی نه دی ساتل شوی بلکی په صدورو کی حفظ دی.

په دی دوو نومونو کی قرآن زیات مشهور ؤ نو دا وجه ده چه په القرآن یادیږی.

قرآن: پدی لفظ کی مختلفي نظریی دی:

امام شافعی رحمة الله علیه وایی چه لفظ دقرآن نه مهموزدی اونه مشتق دی بلکه مرتجل دی. یعنی له ابتداءنه داعلم اونوم دالهی کلام دی چه په رسول الله صلی الله علیه وسلم نازل شوی دی، لکه تورات او انجیل ته قراء وایی چی قرآن له« قرائنو » څخه مشتق دی او قرائن جمع دقرینی ده او ایاتونه یو له بله مشابهت لری نو ځنی په ځینو نورو قرینه وی. داواضح خبره ده چه نون په « قرائن » کی اصلی دی.

ځینی علماء لکه اشهری وایی: قرآن مشتق دی له قرن الشئ، بالشئ چه قرن پیوستون ته وایی نو دقرآن آیاتونه او سورتونه هم سره پیوسته دی. او ځینی علماء لکه زجاج وایی: قرآن مهموزدی په وزن د(فعلان) او مشتق دی له (قرأ) نه چی په معنی دجمع دی لکه چه ویل کیږی « **قرأ الماء فی الحوض** » نو قرآنکریم هم دپخوانیو کتابونو جمع دثمراتو ده.

او حیانی وایی: قرآن مهموز مصدر دی او په وزن د«غفران» چی له «قرأ» نه مشتق دی په معنیٰ د«تلا» دی نو پدی مقروء مسمی شو، داله جملی د تسمیی د مفعول په مصدر دی او داقول مختار اومرجع دی، الله تعالی فرمایی:

إن علينا جمعه وقرآنه فاذا قرأناه فاتبع قرآنه.

ترجمه: بیشکه وعده ده په موږه په سینه ستاکی جمع کول اوآسانول لوستل دهغه لره پس هر کله چی ولولو موږه نو متابعت کوه په لوستلو دهغه.

(نور بیا)

توحید او دشخصیت جوړښت

تراوسه یو لړشمیر خلکو په دی خبره دځان پوهولو کوشش کړی اومسلمانان هم له دی حقیقت څخه په غفلت کی پراته دی چه دالله تعالی هستی او دهغه دتوحید عقیده په انسانی ژوند باندی څه اغیزی لری؟

دالله تعالی له هستئ څخه انکار، انسان دانسانیت له دایری څخه وباسی او سپیڅلی انسانیت دالله تعالی دهستئ په منلو او دالله تعالی په توحید باندی په کامل ایمان او عقیده کی نغښتی دی.

په اسلام کی توحید ته هغه مقام حاصل دی څومره چه په انسانی وجود کی زړه ته ورپه برخه دی. که زړه ناروغ وی نو دبدن هره برخه ناکامه او ناروغه ده. همدا وجه ده چه دتوحید له عقیدی څخه غیر هیڅ ډول عمل دمنلو وړنه دی او نه څه ارزښت لری. دتوحید عقیده په دین باندی محیط ده، ځکه چه رسالت او معاد دتوحید لازمی مقتضیات دی. دغه راز بی له شکه ویلی شو چه له توحید څخه غیر اسلام هیڅ معنٰی نه لری. دتوحید دغه راز یوازی دادی چه توحید ترټولونه دلوی حق یعنی دالله تعالی دحق اقرار او اعتراف او همدغه دعدل او قسط اساس دی، څوك چه دغه حق نه منی هغه دهیچا حق هم نشی پیژندلی تردی چه دخپل ځان حق هم نه پیژنی.

دتوحید ددغه اهمیت په وجه مونږ وینو چه په نړئ کی څومره پیغمبران راغلی، هریو خپل دعوت دتوحید له مسئالی څخه پیل کړی دی او په دغه مسئاله ئی تردی اندازی ټینگار کړی چه په هیڅ ډول شرایطو کی ئی تری دیوی ذری په اندازه هم سرنه دی غړولی بلکه دهغوی دمبارزی او هلو ځلو هدف یوازی د اصل توحید قیام ؤ.

هغوی دهمدی لپاره نړئ ته را-استول شوی وو چه د الله تعالی بندگان دنورو له بندگئ څخه خلاص او یوازی دخپل حقیقی خالق بندگئ او پرستش ته ئی وهڅوی. یوازی دالله تعالی ذات دخپل عبادت لپاره خاص کړی، یوازی الله تعالی ته حاکم اومالك ووائی او په هغه باندی اعتماد او توکل وکړی. له هغه څخه مرسته وغواړی او دنعمتونو دموندلو په صورت کی دالله تعالی شکر په ځای کړی، که مصیبت ورباندی راشی نو دالله تعالی دربارته فریاد او استغاثه وکړی، په طمع، خوف، امید او ویره او دژوند په ټولو حالاتو کی سترگی یوازی دالله تعالی لوری ته واړوی ، مینه ئی دالله تعالی دمینی تابع او رضائی دالله تعالی درضا او خوښی تابع وی. په ذات، صفاتو او ټولو حقوقو کی دالله تعالی وحدانیت ومنی او په هیڅ چاره کی ورسره شریك مقرر نه کړی. نه ورسره کومه فرښته، نه پیری، نه پیغمبر نه کوم ولی او نه کوم بل څوك په صفاتو او حقوقو کی یوشان وگڼی.

توحید یوازی کوم علمی حقیقت نه دی بلکه یو پوره عملی حقیقت هم دی، دانسانی ژوند په جوړښت کی که انفرادی وی اوکه ټولنیز، خو دتو حید دتاثیر برخه پکی ښکاره ده. بلکه که وویل شی چه په غوره ډول دانفرادی او ټولنیز ژوند جوړښت او سمبالښت یوازی دتوحید په عقیده پوری تړلی دی نو په خبره کی به مو زیاتی نه وی کړی، مونږ به د ژوند په دواړو اړخونو کی دتوحید دعقیدی داغیزی په باب په یو لنډ تحلیل کی داحقیقت ثابت کړو چه ټولی ناخوالی او مفاسد یوازی دتوحید دعقیدی په خپلولو کی نابود کیدلی او ورکیدلی شی اوبس.

په انفرادی ژوند کی د توحید د عقیدی په اساس د انسانیت تعمیر:

په انفرادی ژوند باندی دتوحید تر ټولو ستره اغیزه داده چه دغه عقیده انسان ته دآزادئ،عزت، وقار او حریت هغه مقام وربخښی چه هغه ئی داشرف المخلوقات دحیثیت په ګټلو سره مستحق دی،دکایناتو ټول موجودات دانسان لپاره پیداشویدی.

خو ترهغه وخته چه انسان له توحید سره آشنانه وی او د توحید عقیده ئی نه وی منلی ددنائت او رذالت حال ئی داوی چه له ډیرو کوچنیو شیانو څخه هم ډاریږی او ریږی. په دغه صورت کی انسان دانسان بندګی نه کوی، دانسان قدمونه نه ښکلوی بلکه دنارینه و او ښځو دشرمځایونو شکلونه جوړوی او په سجدو ورته پری وزی او فکر کوی چه دا دانسانی تخلیق محوروونه دی.

له الله تعالی څخه انکار، انسان ګمراه او آواره کوی، دالله تعالی له توحید څخه منکر په ټولنه کی دځان لپاره هیڅ ډول مرکزیت نه وینی. انسان دخپل ځان په شان بل انسان دخپل رب او بادار په حیث پیژنی، دغلامانو په شان دهغه په پښو کی رغړی او دهغه لپاره دامر او نهی په حق قایلیږی، تردی چه ژوندی خو لاپه ځای پریږده چه مړو ته درخواستونه او معروضی وړاندی کوی. هغوی دکایناتو په چارو کی متصرف، عالم الغیب، ګټه رسوونکی او زیان رسوونکی ګڼی، یوازی په دغو چارو هم اکتفانه کوی بلکه هره پرته تیره او هره ولاړه ونه دخپل معبود په حیث منی او هغو ته له عبادت څخه عار نه کوی. په دی ډول انسان له خپل لوړ مقام څخه راپریوزی او خپل هغه شرف او حیثیت له لاسه ورکړی چه الله تعالی ورته انعام کړی دی . دغه حقیقت په قرآن عظیم الشان کی په دی ډول څرګند شوی دی:

ومن یشرك بالله فکانما خر من السماء فتخطفه الطیر او تهوی به الریح فی مکان سحیق.

(الحج ۳۱)

ترجمه:څوك چه له الله تعالی سره شریك مقرر کړی مثال ئی داسی دی لکه چه له آسمان څخه راغورزیدلی وی، یا مرغانو خوړلی وی او یادهوا په واسطه په کوم لیری ګوټ کی غورځیدلی وی. له دغو ارضی او فرضی معبودانو سره سره دانسانانو دبندګئ طریقی او لاری چاری هم بدلیږی او ټول انسانیت په هماغه ډول پایمالیږی، نه هغه ته کوم رښتیانی شرف او عزت ورپه برخه کیږی او نه د امن او اطمنان ساه اخستلی شی.

کله کوم شریر او فاسد انسان دنمرود او فرعون په بڼه راڅرګندیږی، کله دهلاکو او چنګیز په شکل او کله دمسولینی ، هټلر او لینن اوسټالین او بریژنیف او ببرک په شکل. چه په هیوادونو کی دتباهۍ، بربادۍ، هلاکت او قتل عام بازارتودوی. دتوحید دعقیدی په خپلولو سره بیله درنګه دانسان حال بدلیږی او په ژوند کی ئی ستر انقلاب پیداکیږي. هغه انسان چه نړۍ ورته دحقارت او ذلت په سترګه ګتل، دومره لوړ شی چه له الله تعالی نه غیر نور ټول موجودات ئی خدمت کوی، ددغه ستربدلون او تغیر وجه داده چه یو موحد انسان ته داحقیقت څرګندیږی، چه که غم وی که خوشحالی، ژوند وی او که مرګ، خواصل مرجع ئی یوه ده. په همدی وجه هغه یوازی او یوازی دالله تعالی ذات ته د امید سترګی اړوی او یوازی له هغه څخه ویریږی او په دی پوهیږی چه یوازی دالله تعالی ذات عزیز او حکیم ذات دی چه په خپل قدرت او حکمت سره دکایناتو دغه نظام چلوی او هغه څوك چه دغه راز ورته څرګندشی په حقیقت کی ئی دداړو جهانونو نیکمرغی وګټله.

دهغه ددولت خزانه لازواله او ژوندئی غیر فانی دی.همدا خلك دی چه افکارئی په مصیبت او راحت او هرحال کی یوشان او متوازن دی، دخوښۍ په کومه ټنده چه دراحت او آرام دلحظو استقبال کوی په هماغه خوښۍ سره آزمایش او مصیبت ته هم ښه راغلاست وائی. همدغه دی دانسان اصلی شرف. همدغه اختیاری اطاعت دتوحید دعقیدی اصلی روح دی.

په ټولنیز ژوندانه کی دشخصیت جوړښت:

په همدی ډول دتوحید دعقیدی ټولنیزی اغیزی هم زیاتی دی. دانسانی ژوند بنسټ په کامل عدل او حقیقی مساوات باندی ټینګ شوی دی، دایوڅرګند حقیقت دی چه کامل عدل او حقیقی مساوات دالهی وحدت او انسانی وحدت نه غیر ناممکن دی. که نړۍ رښتونی انسانیت ته اړتیالری نو د رښتونی انسانیت بنسټ دتوحید په عقیده ولاړدی. یوازی دالله تعالی ذات دخپل حقیقی رب او مالك په حیث منل او یوازی دهغه بندګی کول کامل انسانیت دی، حقیقی انسانیت دانه دی چه یو شمیر انسانان معبودان وی او نور ئی بندګان. یوشمیر فرمانروایان وی او نور فرمانبردار، یوشمیر خپل احکام صادر کړی او نور دهغو دبندګانو په شان دهغوی داحکامو او قوانینو پابندی او رعایت وکړی.

بلکه حقیقی انسانیت دادی چه یوازی یو حاکم او فرمانروا موجود وی او یوازی دهغه احکام او قوانین دمنلو وړوی او ټول انسانیت دهغه داحکامو او قوانینو رعایت وکړی. یو انسان ته په بل انسان باندی برتری حاصله نه وی، بلکه دتفوق او برترۍ او عزت اوشرف معیار یووی او هغه معیار باید دالله تعالی سره وفاداری وی، دهغه داحکامو پابندی وی، له الله تعالی څخه ویره وی او دهغه دخوښۍ پلټل وی او همدغه دی حقیقی انسانیت. که انسان غواړی چه دحقیقی آزادۍ له حق څخه برخوردارشی نو دغه نعمت ورته هغه وخت په برخه کیدای شی چه

يوازې دالله تعالى ذات دخپل رب او حقيقي معبود په حيث ومني، په انسان باندې دانسان حاكميت پای ته ورسيږي او ټول انسانيت په كامل اتفاق سره داومني چه په انسان باندې دانسان نه بلكه دالله تعالى احكام دمنلو او تنفيذ وړدي. ددغه اصولو دمنلو په صورت كې دځمكې په مخ دحقيقي آزادۍ لمر راختلی شي. په انسان باندې دانساني احكامو او قوانينو حكومت او حقيقي آزادي يو د بل سره كاملاً تضاد دی.

حقيقي عدالت:

په نړۍ كې دقوانينو لوی لوی دفترونه او محكمې پرانستل ښكاري چه دقوانينو متخصصين پكې په ښكلو څوكيو ناست دي، خو حقيقي انصاف او عدالت پكې نشته.ځكه چه دانصاف بنسټ په بې انصافۍ ولاړدی.

او نا انصافي به له دې بله كومه وي چه انسان دانسانانو لپاره معبود شي، كه انسان دالله تعالى په باب غير عادل او غير منصف شي نو دانسان په باب به څه انصاف او عدالت تأمين كړي.

له انسانيت سره انصاف دداسې قانون په واسطه ممكن دی چه انساني خود غرضي او اقتدار طلبي پكې ځای ونه لري. له هغه حاكم او منصف څخه دانصاف او عدل هيله كيدای شي چه په الله تعالى باندې ايمان لري او له پوښتنې او نيونې څخه ئې په ويره كې دی .

نن د هرظالم، فاسد او دامنيت دښمن هيواد دعوی داده چه هغه په نړۍ كې دسولې او امن علمبردار دی، په داسې حال كې چه دوی پخپله دنړۍ امن خراب كړی اوبشري سلامتي ئې له خطر سره مخامخ كړې ده. په نړۍ كې حقيقي سوله او امنيت هغه وخت ټينگيدای شي چه دنړۍ ولسونه دالله تعالى په وحدانيت عقيده ولري، دالله تعالى قانون دانساني ژوند دهراړخيز قانون په حيث ومني او دالله تعالى نيونې او جزا او سزا باندې دعقيدې په لرلو سره خپل سر نوشت وټاكي، په دغه صورت كې به هيڅ ملت په بل باندې تيری او تجاوز ونه كړي، په نړۍ كې به سوله او امنيت ټينگ وي، عدل او مساوات به تامين وي.

ملگري ملتونه نن سبا يو عادلانه قانون ته اړتيالري چه له هر چاسره بايد ددغه قانون په رڼا كې بې طرفانه فيصله وكړي، دغه هيله چه په حقيقت كې دټول بشريت هيله ده يوازې دهغه آسماني قانون په وسيله پوره كيدای شي چه دالله تعالى په الوهيت او وحدانيت باندې ولاړ وي ددغه قانون په وسيله په نړۍ كې ديو بين المللي قوميت او بين المللي سياسي تنظيم وجود رامنځته كيدای شي چه دنړۍ ټول مشكلات اوربپرونه حل وفصل كړي.

دامام بخاري رحمه الله تعالى ژوند ته یوه کتنه

دوهمه برخه

درس او افتاء:

دامام بخاري حافظه، زکاوت او تفاهم په علم الرجال«سایکالوژی» کی لوی لاس او په علم حدیث باندی عبورهغه حقایق وو، چه خلك یی دی ته اړو یستل تر څو دامام بخاري له درس او افتاء څخه استفاده وکړی.

حاشدبن اسماعیل وایی:چه داهل علم دمینی حال دا ؤ چه امام بخاري به یی په لاره کی ودراؤه او د آحادیثو د لیکنو غوښتنه به یی تری کوله.

د ابو بکر بن عباس الاعین وینا ده چه دا هغه وخت ؤ چه امام یوازی دخپل ژوندانه اتلس پاړکی وهلی وو، په دغه کوچنی منگ کی هم دخلکو دتوجه وړ ؤ او خلکو یی له درس او افتاء سره مینه درلوده.دامام دځانگړی شاگرد محمد بن حاتم الوراق وینا ده چه امام بخاري وفرمایل: زه ترهغه وخته د آحادیثو درس ته نه کښېنم ترڅو صحیح آحادیث له ضعیفو او سقیمو څخه جلا کړم او داهل الرأی د کتابونو دمطالعی سره سره دحدیثو په رشته کی لار پیدا کړم،په آحادیثو کی علم الانصاب، اسماء الرجال، مراتب جرحه وتعدیل او علل آحادیث ټول شامل دی. پدغو ټولو رشتو کی امام خاص مهارت درلود اوددی سره سره د امام بخاري طبیعی استعداد هم د خاص اهمیت وړ ؤ.همداوجه وه چه یوازی دامام د درس اوریدونکونه بلکه استادانو او شیوخوځی هم خلکو ته دامام بخاري په درس کی دگډون بلنه ورکوله.

دهغه درس او علمی غونډی به ډیرځل په بصره، بغداد او بخارا کی جوړیدلی، خو دنړۍدا سی گوټ پاتی ندی چه هلته دامام بخاري دشاگردانو درس نه دی رسیدلی. محمد بن یوسف فربری وایی چه دامام صاحب په درس او علمی غونډو کی به لویو لویو استادانو او شیوخو برخه اخسته.عبدالله بن محمدالمسندی،اسحاق بن احمد، عبدالله بن منیر او ابن قتیبه اونور که څه هم مشهور عالمان وو خود امام بخاري په غونډو کی به ئی برخه اخسته او دهغه

فقهي مشوري به ئي د ځاداشتونو په ډول ليکلي.

ابوزرعه رازي، ابو حاتم رازي، ابو بکر بن العاصم، اسحاق بن احمد، ابن خزيمه او قاسم بن ذکريا په فن تاريخ، اسماء الرجال او فن تعديل او جرح کې دامامت مرتبوته رسيدلي وو خو بيائي هم دامام بخاري له علمي ځيرنو سره مينه درلوده او دهغه دعلمي ويناوُ ځخه داستفادې لپاره به ئي په مجلس کې ګډون درلود. امام بخاري که څه هم دخپلو دوستانو او استادانو په مشوره او ټينګار لادطالب العلمۍ په زمانه کې په فتوی ورکولو پيل کړی ؤ خوله زده کړو وروسته ئي کله چه په بخارا کې د درس مجلس جوړکړ، نو دافتاء چاري ئي هم په منظم ډول پيل کړې. که څه هم د امام بخاري شاګردانو د هغه فتواوُ ته دکتابي شکل د ورکولو لپاره پاملرنه ونه کړه خو بياهم دصحيح بخاري ابواب او تراجم هم دفتاوُ ديو ځانګړي او مرتبې مجموعې نه کم حيثيت نه لري.

هغه ته به چه هره مسئاله وړاندې شوه له قرآن او سنت رسول صلی الله عليه وسلم او دصحابه کرامو له آثارو ځخه به ئي دهغې ځواب ورکاوه او که به ئي په دغو دريو مأخذونو کې کوم دليل نه مونده نو بيا به ئي سکوت غوره ګاڼه. همدغه وجه ده چه دجامع صحيح په ځينو مقاماتو کې بابونه او ترجمې له حديث ځخه خالي دي.

حديث او امام بخاري:

علماؤ چه دحديثو په مسلك کې امام بخاري رحمه الله ته کوم مقام ورکړی او امام بخاري چه په څومره ښه ډول ددغه مقدس مسلك خدمت کړی په دې مقاله کې ئي دمفصلي يادونې ځای نه شته خو له دی حقيقت ځخه هم انکارنه شي کيدای چه امام بخاري او علم حديث يو د بل لازم او ملزوم دي ځکه خو بايد ديو لړ هغو ځانګړ-تياوُ يادونه وشي چه دامام بخاري په شخصيت پوري اړوند دي. ـ

د روايت فن يو داسي مسلك دی چه په لوستلو اونه لوستلو پوري ئي دولسونو دعروج او زوال داستانونه تړلي دي. د ولسونو په مسلکی او علمی ژوند کی د روايت ځانګه هغه بنسټيزه تيزه ده چه له موجوديت ځخه غير ئي دارتقائي موړونو وهل مشکل کاردی.

هسې خو دنړۍ هر ملت له دغه مسلك سره ځه ناځه مينه لری خو مسلمانانو چه له دغه مسلك سره څومره احسان کړی هغه يوازی خپل مثال په خپله دی، نقد او جرح، اسماء الرجال او داسنادو دسلسلي ساتل هغه ذخيرې دی چه دقرآن کريم نه علاوه ئی د رسول کريم صلی الله عليه وسلم اقوال او اعمال هم خوندی وساتل او خبره يوازی دغه تاپې ته ونه رسيده بلکه دصحابه ؤ تابعينو او تبع تابعينو اقوال،فتاوی او نظريات ئی هم محفوظ وساتل.

دتدوين حديث کار له خلفاءراشدين ځخه پيل شوی ؤ خو څومره چه دنبوت له عصر ځخه کلونه تيريدل ورسره

ورسره په نقد او جرح کی تشدد رامنځته شو، که عمرفاروق رضی الله عنه ته به لږ شك هم پیداشو نو دلیل او گواه به ئی راغوښته، دعبدالله بن مسعودرضی الله عنه په هکله محدثین لیکی چه په روایت کی به ئی له ډیر تشدد څخه کار اخست او که کوم شاگرد به د حدیثو د الفاظو په یادولو کی لږ څه غفلت کاوه نو سخت به ئی ټوکه.

عمربن عبدالعزیز نه یوازی داچه دحدیثودتدوین لوری ته زیاته پاملرنه وکړه بلکه دحدیثو دلیکلو اهتمام ئی هم وکړ او له ابوبکربن حزم نه ئی وغوښتل چه د آحادیثو یوه مجموعه ترتیب کړی.

له بني امیه نه وروسته عباسی خلفاؤ هم په دغه خدمت کی ستره ونډه اخستی او پخپله هارون الرشید به دموطاء داوریدلو لپاره د امام مالك په مجلسونوکی گډون درلود، د علماؤ، پادشاهانو او امیرانو نه علاوه له علم حدیث سره د عامو خلکو دزړه مینه هم دیادولو وړده. هغه وخت چه دامام بخاری دشیخ (سلیمان بن حرب) لپاره دمأمون الرشید دخلافت مسند ته نږدی د املاء د درس ترتیبات ونیول شول، نو په درس کی دگډون کوونکو شمیر پوره څلویښت زره تنه ؤ او کله چه په بغداد کی دعلامه فریابی درسی غونډه جوړه شوه نو دلیکونکو شمیر دری سوه شپاړس تنه ؤ خو داوریدونکو شمیر دیرشو زرو کسانو ته رسیده.

د امام بخاری ددرس حال داؤ چه خلکو دلیرو لیرو ځایونو څخه د پیاده سفرونو د کړاؤنو په منلو سره د بشریت د لاربنود حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د ارشاداتو د اوریدلو لپاره د بخاری په غونډو کی گډون کاوه.

علامه فربری وائی:چه له امام بخاری څخه دهغه په ژوند دصحیح بخاری داوریدونکو شمیر لس کم شلوزرو کسانو ته رسیدلی ؤ. دغه دی د آحادیث رسول الله صلی الله علیه وسلم سره دمسلمانانو والهانه مینه او دغه دی له مقدس مسلك سره د اسلامی پاچاهانو او دوخت د امیرانو توجه او خدمت.

د تحقیق او تنقید بنسټ ابوبکر صدیق او عمر فاروق رضی الله عنهم کیښود،تابعینو دهغو اصول او ضوابط جوړکړل او تبع تابعینو هغوته د ځانگړی او مستقل مسلك مقام ورکړ.

د روایت په فن کی محدثینو په راویانو باندی دومره بی باکه او شدید انتقاد کړی چه ځینی دلنډ نظر څښتنان ورته د ذاتی او شخصی حملو نوم ورکوی اوله امام بخاری نه هم ځینی دوستان یوازی په همدی وجه خفه دی چه دجرح او تعدیل په برخه کی ئی له شدت څخه کار اخستی دی. ځکه خو محدثینو په اتفاق سره ویلی هغه روایت چه مرفوعاً په صحیح بخاری کی راغلی بیله شکه صحیح دی او داهغه کوټلی معیاردی چه دمحدثینو له خوا ټاکل

شوی او ویل شوی چه هغه روایت چه بخاری ورته ثقه او باوری ویلی په حقیقت کی دشك او تردید له پولی تیر شوی اوبی خطره شوی دی.

دتدوین حدیث په برخه کی امام بخاری ترټولو ستره ځانګړنه او ترټولو مهم خدمت دا دی چه هغه دحدیث د تدوین تر څنګ فقه حدیث هم تدوین کړه.صحیح بخاری چه څومره د صحت له حیثه باوری دی، هغو مره دمسایلو په حل او فقاهت کی هم یوازینی کتاب دی. دفقه حدیث ترتیب او تدوین که څه هم عبدالله بن مبارك، سفیان ثوری، امام مالك او نوروپیل کړی ؤ، خو په دغه برخه کی دامام بخاری خدمتونه دستاینی وړدی. تاریخ الرجال ددغی لړی یوه مهمه کړۍ ده ځکه د صحیحو آحادیثو انتخاب او ټاکنه او د هغه ډیرل یو فوق العاده کار ؤ چه له تاریخ الرجال څخه غیرئی امکان نه درلود، ځکه باید ددغه ستر کار لپاره د راویانو د ژوند حالات پوره روښانه وی.

ترهغه وخته چه تاریخ الرجال ترتیب شوی نه ؤ، ځینو درواغجنو کسانو یو لړ استفادی هم وکړی خو کله چه محدثینو دتاریخ الرجال په لیکلو پیل وکړ، نو ددغی فتنی اور مړشو بلکه اصلی خبره داوه چه دغو دروا‌غو او افتراآتو امام بخاری اړویست تر څو تاریخ الرجال ترتیب کړی. هغه په دغه لړکی تاریخ کبیر، تاریخ اوسط او تاریخ صغیر ولیکل او په راویانو باندی ئی په جرح او تنقید کی له تشدد څخه کاړواخست.

امام بخاری ددغه فن په ترتیب کی نه یوازی دا چه د آحادیثو دمسلك لپاره ستر خدمت سرته ورساوه بلکه راتلونکو نسلونو ته ئی هم د تاریخ په ځانګړی څانګه کی لارسمه کړه، همدا وجه ده چه وروسته زیات شمیر کسانو دهغه لارتعقیب کړه.

امام بخاری یوازینی لیکوال دی چه کتاب ئی دصحت، دقت او اعلی فقاهت نه علاوه په اسلامی علومو کی یو جامع اثردی. ټولی هغه مجموعی چه له صحیح بخاری نه وړاندی جوړی شوی وی، په خاصو عناوینو باندی مشتملی وی، په ځینو کی دعباداتو ذکر ؤ، ځینی په نکاح او طلاق باندی مشتملی وی او په ځینو کی یوازی دغزواتو او سرایاؤ بحث راغلی ؤ، خو صحیح بخاری دیو داسی اثر په حیث نړیوالوته وړاندی شوی چه په هغه کی دعقایدو، عباداتو،معاملاتو، غزواتو، تفسیر، دصحابه ؤ فضایل، آداب او اخلاق، توحید،دوحی پیل، دنړۍ تأسیس، ملکی سیاست، کورنی ژوند او د نورو مهمو مسایلو نه علاوه کوچنی بحثونه هم شامل دی چه مجموعی شمیر ئی څلور پنځو سو اصولی مسایلو ته رسیږی چه صحیح بخاری ورباندی په تفصیل سره بحث کړی دی. که دغه کتاب ته د اسلامی علومو د «انسایکلوپیدیا» خطاب ورکړی شی، نو ډیره په ځای خبره به وی.

(نور بیا)

سیکولریزم



ژباړه: نجیب الرحمن

دسیکولرېزم کلمه دآروپائی ژبو له مفرداتو څخه آخستل شوی کلمه ده چه په سمه او صحیحه ترجمه کی هغو دنیائی کړو وړو ته ویل کیږی چه د ځمکی پر مخ دبی دینۍ فساد خوروی او هغی ته بلنه ورکوی او ددین سره نه پخلا کیدونکی او متضاد دریځ لری . نو راځئ چه دپورتنۍ ادعاء داثبات او جوتیا په خاطر دنړۍ لوی او غټ دائرة المعارفونه او قوامیس وپلټو چه دسیکولرېزم په آړوند ئی څه لیکلی ؟

۱-انګلیسی دائرة المعارف د سیکولرېزم پیژندنه په لاندې توګه کوی:

دا یواجتماعی(ټولنیز)حرکت دی چه یواځینی هدف ئی له دین نه دخلکو اړول او ددنیا په لوردهغوی راګر ځول دی.

کله چه په منځنیوپیړیو کی خلك له دنیا نه دلاس په سرکیدو او په الله تعالی او د آخرت په روځ د ایمان راوړلو په تکل کی وو، نو سیکولریزم ددی نیکو او ښو هیلو سره دډغری او مقاومت په منظور دانسان رغباتو او غوښتنوته د ودی ورکولو او په انسانانو باندی په فرهنګی او بشری ساحو کی دنوی تمدن د کامیابیو او انجازاتو دآغیزی او له دی مو فقیتونو سره د خلکو دشدید تعلق او پیوستون درابرسیره کیدوله لپاری په داسی وخت کی میدان ته راودانګل، چه بشر په دی سوچ او فکر کی ؤ چه ګواکی دوی به په خپلی همدی دنیاګۍ کی خپل آرمانونه او آرزوګانی بشپړوی او هغه به ترلاسه کړی. نو همدا وو چه سیکولریزم په دوامداره او پرله پسی توګه د خلکو دپاملرنی او توجه مرکز وګرځید، چه دا پاملرنه د سیکولریزم د تطور او پرمختګ باعث شوه او سیکولریزم دمعاصر تاریخ په اوږدو کی د یو دین ضدی حرکت په نوم وپیژندل شو.

۲-د«العالم الجدید» لوبستر قاموس د سیکولریزم دکلیمی شرح په لاندی ډول کوی :

الف:سیکولریزم ددنیائی ژوند او دنیائی اتجاهاتو څخه عبارت یو مسلك او د مبا دئو او تطبیقاتو practices یو نظام دی چه ایمان او عبادت دهغه په هر شکل کی مردود او نه منونکی ګڼل کیږی .

ب: په سیکولریزم کی دین او کلیسا ته ددی حق نشته چه ددولت په چارو او دعامه تربیی په ساحو کی مداخلت وکړی.

دپورتنیو څرګندونونه جوتیږی چه سیکولریزم له دین سره منفی او سلبی آړیکی لری.او دهغه دلمنځه وړلو هڅه کوی او په دنیائی ژوند کی د دینی أرزښتونو په محوکولو کی بی دریغه

زیار باسی.

چه په دی توگه دسیکولریزم واقعی اودهغه سره مناسبه ترجمه دبی دینۍ او لادینیت څخه عبارت ده.

خوددی واقعیت سره سره د لویدیځ نړۍ سیکولرستان دا إدعاء کوی چه سیکولریزم د دین سره دښمنی نلری او فقط غواړی چه دین د ژوندانه د سیاسی،إقتصادی، إجتماعی او فکری ... آړخونو نه لیری وساتی او په عین حال کی خلك دخپلو دینی وظائفو په أدا کولو کی له کاملی آزادۍ نه برخمن وی او دوی کولی شی هر هغه دین خوښ کړی چه دوی ته غوره بریښی، خو په یو شرط چه دا دده فردی عقیده وی او د ژوندانه په علمی او إجتماعی ساحو کی بی أثره وی.

دسیکولریزم نشئت [پیدایښت]:

په منځنیو پیړیو کی أروپا په دینی، ټولنیزو، سیاسی اوا قتصادی ساحو کی له سختو ستونزو او بدو حالاتو سره مخ وه او دنوی تمدن په راتگ سره داحالات له بده بدتر او کړکیچن شول، دا صحیح ده چه په مادی أړخ کی نی ډیر پر مخ تگ وکړ، خو دا یوه نا تمامه کامیابی گڼلی کیږی او دادی مونږ په راتلونکو کرښو کی دسیکولریزم نشأة او لمړنی پیدایښت ته درسیدوپه منظور په خلص او مؤجزډول دپورتنیو ظروفو او حالاتو څرگندونه کوو.

لمړی- دینی حالات او ظروف:

له کومی ورځی نه چه د نیقیة ټولنی په کال۳۲۵م کی د رسمی مسیحیت په نوم تبارز وکړ - له هم هغی ورځی نه کلیسا په ډیر بد شکل په خپلو دینی سر کشیو او ارهابی أعمالو لاس پور ی کړ او دخپل ظالم او متجاوزطاقت نه په إستفادی سره ئی په خلکو دتثلیث عقیده جبراً ومنله او خپل مخالفین ئی ژوندی وسوځول او هغوی ئی ورتل. ختان(سنتول)چه په مسیحیت کی دواجباتو نه گڼل کیده، حرام وگرځیدل او مرداره چه حرامه وه، مباحه وشمیرل شوه . دبتانو نیول، شرك او بت پرستی وه، خو دوی دتقوی او پر هیز گارۍ رمز وباله اوکلیسا دخپلی سرکشه او ظالمی دینی سلطی د پیاوړتیا په خاطر د الله تعالی حقوق او صفات دځان لپاره غوره کړل چه خلکو ته به ئی د گناهونونه دپاکوالی سندونه ورکول او خپل مخالفین به ئی دالله تعالی له رحمت نه لیری او محروم بلل چه د دوی داکار دیو سخت معنوی عقوبت په څیر او د یوه ډاروونکی بلاء په شکل په یوه وخت کی هم په آفرادو او هم په ولسونو مسلط وو.

دویم-إقتصادی، سیاسی او ټولنیز ظروف او حالات:

په دی وخت کی په آروپا کی داسی یو طبقاتی نظام مسلط ؤ چه ځمکه او په هغی پوری أړوندڅیزونه او ملحقات دیو څو په شمار کسانو ملکیت وو، بزگر او کارگر ته دهغه عادلانه مزد او حقوق نه ورکول کیدل ، هغوی دبزگرۍ او مزدورۍ دآلاتواو اوزارو په څیر دځمکی دخاوند ترملکیت لاندی راتلل .

په همدی أساس وه چه هلته غالبو او اکثرو وگړوپه داسی حال کی دفقر،لوږی او حاجتمندۍ ژوند ترسره کاوه چه ددوی مالکانو او دځمکو څښتنانو داسراف، فسق، فجور، چړچواو میلو شپی او ورځی تیرولی .

چه نتیجتاً ټولنه په دوو إجتماعی

طبقواو پوړیو وویشل شوه.

الف:دباداراناو ومالکانو طبقه:

چه دهرڅه څښتنان اوهر څه د دوی وو.

ب:دمریانواو بزګرانو طبقه:

چه نه ئی څه درلودل اونه ئی دڅه دحاصلولو حق درلوده . او کلیسا نه یواځې دا چه دلړی طبقی په ظالمانه او تیری کوونکی حرکت سترګی پټولی بلکه خپله ئی هم په دی کارکی برابره ونډه درلوده.

رابه شو دهولنی سیا سی آرخ ته :

په سیاسی آړخ کی هم حالات او ظروف بعینه داجتماعی آړخ په څیرو، دټولنی حاکم دمالکانو اوباداراانو له ډلی او دډیرو مریانوڅښتن ؤ چه خپلونوروهم مثلو او همردیفو ته به ئی غوړه مالی کوله او دخپل هغه حا-کمیت دبقاء په خاطر چه په تاریخ کی دوختی حکومتونو او سلطوپه نوم پیژندل شوی او په خلکودایښودل شوو باجونو او مالیاتو دراټولولو په منظورئی لوئی امپراطورته کلنۍ مرستی ورکولی او آمپراطورۍ ته به ئی دهغو مالونواو عائیداتوورانديز کاوه چه له خلکونه به ئی په زبردستۍ ترلاسه کول او ددی کار سرپرستی دهغی کلیسا په لاس کی وه چه د دری سوه زروتنو په شاوخوا کی ئی د خپلو څارنوالیو په وسیله ووژل چه په دوی کی دوه دیرش زره کسان ژوندی وسوځول شول .

او همدارنګه کلیسا به هغه وختی حاکمان چه ددوی له آوامرو نه ئی سر غړونه کوله او دکلیسا درغباتو او خو-اهشاتو په تحقق او پوره کولو کی ئی له تساهل او سستۍ نه کار آخیست، دخپل ظلم اوزیاتی نخښه ګرځول او دهغوی په حق کی به ئی درحمت نه دمحرومیدو فرمان صادراوه، په همدی اساس ووچه حاکمان د کلیساله ویری او کلیسا له حاکمانو نه دأستفادی په منظورپه خپل منځې ظالمانه تړون تړل شوی وو او دولس نه ئی دقربانۍ ګډ جوړکړی ؤ.

دپورتنیو ظروفونتا ئج:

دکلیسا همدغه جبری ظروف ووچه په فکری اوعقلی ساحه کی ئی دپوهی او پوهانو، اختراعاتو او کشفیاتوپر ضد خپل فرمانونه صادر او دهغو دلمنځه وړلو په خاطرئی په داسی یو وخت کی دجنګ داورلاره غوره کړه چه خپله دمزخرفو او بیهو ده تړتکو په إجراء کولو، د مخالفینو په دارځړولو،دمغفرت او محرومیت د فرمانونو په صادرولواو داسی نورو خبیثوأعمالو مصروف وو او دهمدی ویری، ډار او رعب نتیجه وه چه خلکو دکلیسا هر ی خبری ته سرټیټاوه. خصوصاً کله چه په کال ۱۲۱۵م کی پاپ ته دکلیسا لخوا د ګناهونو دبخښنی حق ورکړی شو او په کال ۱۸۶۹م پاپ له هر رنګه خطانه معصوم او پاك وګڼلی شو،دپورتنیو دووسنو ترمنځ او له هغی نه په را وروسته دوره کی کلیسا دخلکو دزړونو په څارنه بوخته او دهغو په فکری ودی ئی بندیز لګولی ؤ، خپلو مخالفینو ته ئی دتعذیب او وژنی سوغاتونه وربخښل او په هغو ئی دإقطاع او وختی حکومتونو په دورکی سیاسی، إقتصادی او إجتماعی بندیزونه لګولی شوی وو، نو همدا ووچه د دوی ددی ظالم عمل په نتیجه کی له خلکو سره دعکس العمل فکر راڅرګند شو او په خپل لمنی ردفعل کی ئی له دولت نه ددین دجداوالی او بیلتون مطالبه وکړه چه معتدلینو

دکلیسا په آنګړ کی ددین دزندانی کولواو متطرفینو ئی د لمنځه وړلو غوښتنه کوله .

اوهمدا وخت ؤچه مشهور فیلسوف "دیکارت" خپله دا نظریه وړاندی کړه چه دعقل اودین هریوه خپل خپل او ځانګړی ډګرونه دی چه د علم ډګر طبعیت او ددین ډګر د آخرت ورځ ده . او په دی توګه ئی دین له علمی او إنسانی ژوند نه جدا او بیل کړ. چه په نتیجه کی ئی په سلګونو کلیسا وی ورانی ویجاړی او په زرګونو منسوبین ئی ووژل شول او دلویواو سترو إنقلابونو دمنځ ته راتلوسبب شو چه یو څو مشهورئی دادی

۱-دکاکه ګانوإنقلاب (فرسان):

دا إنقلاب دشپاړسمی پیړۍ په سرکی په ألمان کی پیل شو چه په کلیسأوئی یولوی یرغل وړوړ او هغه ئی ونړولی او پاپان او راهبان ئی تری وشړل .

۲-دژورو ځمکوانقلاب:

ددی إنقلاب په لمړنۍ آونۍ کی څلور سوه کلیساوی او دهغو بی شمیره ځانګی ونړولی شوی. او دخلکو غضب هله سوړشو چه دټولنی داوچتی او حاکمی طبقی نه ئی أتلس زره او شپږسوه کسان په اعدام محکوم او تقریباً شپیته زره نورئی په تیښته مجبورکړل او دسیکولریزم غږئی پورته

او له دولت نه ئی ددین دبیلتون غوښتنه وکړه او ددی ترڅنګ ئی دفردی مذهب شعار اوچت کړ او هغه دا چه «انسان دمذهب په غوره کولو کی مجبورنه بلکه مختار او دشخصی آزادۍ څښتن دی چه دبل په مذهبی چاروکی دمداخلی او لاس وهنی حق نلری محکه هغه هم دده په څیر دفردی آزادۍ نه برخمن دی».

او ددی فردی مذهب دتطبیق په وجه دژوند په إقتصادی آړخ کی سرمایه داری نظام ته او دهغه په سیاسی ډګرکی دیموکراسۍ ته لاره هواره شوه او په ټولنیزه (إجتماعی) ساحه کی آفراد او وګړی دشخصی آزادۍ ترنامه لاندی په خپل سرپواو بی بندوباریو سرشول او داکار دسیکولریزم دتقوئی او تغذئی سبب شو.چه په لمړی ځل په تعلیمی ساحه کی او بیا په إعلامی او فرهنګی مجال کی او په وروستی پړاؤکی دښځو په آزادۍ پوری اړوندو ساحوکی تطبیق شو او څرنګه چه خلکو په منځنیو پیړیو کی سیکولریزم دکلیسا دسلطی نه دنجات او خلاصون یواځینی وسیله ګڼله او دائی دآزادۍ، پر مختګ او ترقۍ دروازه اووربالله نو هماغه ووچه دپلویانو شمیرئی روځ په روځ زیاتیده او دشعار مؤیدین ئی ډیریدل.او ددی شعارونو او نارونه فائده پورته کوونکو ډلګیو سیکولریزم ته بلنه پیل کړه او دلادینیت دفتنی اورته ئی لمن ووهله او خلکوته ئی داسی په ګوته کړه چه ګواکی داد تعصب، فقر،جهالت او نورو بدبختیونه دخلاصون یواځینی وسیله ده ،چه ولسونه دترقۍ، خوشحالۍ او مدنیت لوری ته راکاږی اوددی شعارونو اودهغو دتطبیق نه ستره اوغټه فایده یهودیانو ترلاسه کړه او سیکولریزم ورو ورو نورو ولسونوته وکوچیده چه له ځانه سره ئی دخپل دتطبیق مجالونه هم إنتقال کړل، چه اسلامی ختیزهم یکی خپله پوره ونډه ترلاسه کړه.

زما ارمان دشهیدانو معلولینو غږدی

خپل امیدونه ځغلووم دصباوون په هیله

تا کی له ننګه نه ډك ژوند او دسکون په هیله

چه حسدونه تنظیمي هم نژادي ختم شي

دورورولۍ او محبت ژوند ته دتلون په هیله

دجهالت ترګمۍ لری شي شفق تازه شي

د انسانیت ژوند ته دداسی اووښتون په هیله

دبم ټوپك په ځای قلم په لاس کی ځای ونیسي

دقضاوت او بصیرت دنوښتون په هیله

چه تووده غیزداستکبار سره سره پاتی شي

دواشنګټن، مسکو ددغسی بیلتون په هیله

خالدي توره راژوندۍ کړی یوځل بیا په کفر

مؤمن اوچت کړي ډکفارو دځپو ن په هیله

چه مؤمنان یکی دیو جسم اعضاء ووینم

هر یو دخپل مسؤلیت لورته دسمون په هیله

زما آرمان دشهیدانو معلولینو غږدی

دا نن آرمان مو اوس پوره کړی د پرون په هیله

دي له دمال او ځان ددواړوقربانۍ دي شوي

چی وي قرآن سنت مرجع هغه قانون په هیله

بهاره راشه ددی وچ ګلشن ګلونه ویښ کړه

درته «افسوس» زاري کومه دپاڅون په هیله

د قربانۍ میناره

دمسلمانو شازلمو دقربانۍ میناره
همیشه لوړ اوسی دپاکی آزادۍ میناره

ستا عمارت د شهیدانو په سرونو جوړشو
رنګ می دوینو درته درکړ په سیالۍ میناره

اوس دقرآن شمعه دا ستا په هر یو ګوټ بلووم
چه پری روښانه شي ستا واړه آبادۍ میناره

دتن په وینومی دا ستا هریو ګلشن خړوب کړ
درکی زرغون به شي دګلو شنی غوټۍ میناره

پرون دا ستانه دباطل جنازه پورته شوله
دحق راغلې درته نن ښکلې ډولۍ میناره

پرون دشرق بلا ته خوله د ایمان سوک ماته کړه
یو ځل به هم واوری دغرب دغه سلګۍ میناره

تا کی به هیڅوک دظالم زور ته سر ښکته نه کړي
ای دمحمود او احمدشاه او ملالۍ میناره

دمکرجال به نور دهر یو فریبکار وشلوم
ما د جابر ځنځیر کی وخوړی ټالۍ میناره

ستا محبت کی مور تړلی یم په ټینګه لیته
بیا مسلمانی مور راکړی مالـه پېۍ میناره

غوره ویناوې

انما الاعمال بالنیات:

خطابی(رحمت الله علیه)وایي: چه زمونږه پخوانیو استاذانو به دهر کار په سرکی او دهر عمل په پیل کی د«**انما الاعمال بالنیات حدیث وایه**».

او ابن مهدی (رحمة الله علیه)وایی:که څوک غواړی چه کوم کتاب تصنیف کړی نو په همدی حدیث دی شروع وکړی .

او امام شافعی(رحمة الله علیه)فرمایی: په دی حدیث کی دپوهی او علم دریمه برخه پرته ده.

ابوداؤد(رحمة الله علیه)فرمایی:فقه په څلورو آحادیثو ولاړه ده(۱)«الحلال بین والحرام بین»(۲)«الاعمال بالنیات» (۳) «ومانهیتکم عنه فاجتنبوه» (٤) او«لاضررولاضرار».

دغیبت گوزار:

سفیان بن حسین وائی چه ما دایاس بن معاویه په مجلس کی د یوکس بدی بیان کړه نو هغه راته په قهر او غصی سره وکتل او وئی پوښتلم چه د روم غزا دی کړی؟

ماورته وویل: نه! بیا ئی وویل: په هند،سنداو ترکیه کی دی جهاد کړی؟ماورته وویل: نه! نو وئی فرمائل چه روم، هند، سند اوترک درنه په آمان کی پاته کیږی خو په مسلمان ورور دی د غیبت گوزار کوی. ؟

دصادقینو علائم

کتل ئی عبرت، چوپتیائی تفکر او غږیدل ئی دالله تعالی ذکر وی . که څه تری منع شی نو صبر کوی او که څه ورکړای شی شکر اوباسی او که په کوم مصیبت مبتلاء شی نو«انا لله وإناالیه راجعون» وائی.

او چه په څه پوه نشی سوچ پری کوی اوچه پوه شی نو تواضع کوی. ښوونه ئی په مهربانئ وی ،چه سوال تری وشی خپل زیارنه سپموی .

نیت ئی دعمل نه بهتروی، عمل ئی له وینانه ښه وی، په حق کی ژوند کوی، هستوگنه ئی حیاء وی، دنور په بصیرت لیدنه کوی، په علمی حقائقوخبری او په یقینی دلائلوتعبیر کوی.

ازصحرانشيني پرسيدند آيا طريق اتحاف دعا راميداني؟

گفت: آري: سپس ادامه داد:

الهى: تو برمامنت نهادى و به دين اقدس اسلام مشرف مان ساختي درحاليكه مانخواسته بوديم. پس مارا از نعمات بهشت بي بهره مدار درحاليكه آنرا از بارگاه اقدس تومي طلبيم.

از ابو هريره رضي الله عنه مرويست: پيامبر اكرم صلي الله عليه وسلم فرمودند: كليه امتيانم وارد بهشت ميگردند جز كسانيكه آرزوى آنرا ندارند. صحابه عرض كردند.اى رسول الله: كيست كه آرزوى بهشت را ندارد. پيامبر صلي الله عليه وسلم فرمودند: كسانيكه ازمن اطاعت ميكنند وارد بهشت ميشوند و آنانيكه آز دستورآت من سر باز زدند و نافرماني كردند در حقيقت خواهان بهشت نيستند.

(بخارى)

سخني با دانشمند

گفتند: سعادتمند كيست؟

گفت: آنكه ازگذشته اش آموخت و به اصلاح خويشتن پرداخت.

گفتند: بدبخت كيست؟

گفت: آنكه به ديگران داد وبر خود بخل ورزيد.

گفتند: منصف وعادل كيست؟

گفت: آنكه عدل وانصافش از ناتوانى خود ونيروى دشمن منشأ نگيرد.

گفتند: جواد كيست؟

گفت: آنكه سخاوتش بخاطر شكست دشمن وانتقام كشيدن نباشد.

گفتند: حليم وبرد باركيست؟

گفت: آنكه بردباري وشكيبائي اش از عدم قدرت وفقدان حاميان ومددگارانش نباشد.

ابن قيم رحمه الله فرمائي چه: حاجه د حق نه سرغړونه او دهغه له منلو نه ډډه کول، الله تعالى د هغه د كبر، لوئى او سرغړونې په اندول هغه ته ذلت او خوارى ور په برخه كوي.

او همدا راز په بل ځاي كي فرمائي:

په اسلامي شريعت باندي د شخصي نظريو وړاندي او په عقل باندي هوى او هوس ته په اولويت قائليدل د ټولو فتنو او ورانيو اساس او بنسټ ګڼلى شي.

له عمربن عبدالعزيز رحمه الله نه د عثمان بن عفان رضى الله عنه د قاتلانو په هكله وپوښتل شوا ده په ځواب كي وويل چه:

(دا هغه وينى دى چه الله پاك زما لاسونه تري وساتل، نو نه غواړم چه ځپله ژبه پري ككړه كړم)

دعقل هنداره

وائی:دعمر په اوږد یدو سره دانسان بدنی قوت کمیږی خو عقلی قوت ئی غښتلئ کیږی.
تجربه دعقل هنداره او لا أبالی توب دجهل ثمره د ه.
هوښیاران دخپلو تجربونه دعبرت درس او دژوندله لوړو ژورونه پند اخلی .
ابن مسعود رضی الله عنه فرمائی:
له ټولو ستر غنی هغه دی چه په خپل قسمت او نصیب راضی وی.او پرهیزگار او متقی هغه دی چه له حرامو ډډه وکړی.
او عابد هغه دی چه دالله تعالی فرض او آوامر پر ځای کړی.

بې گټې لس ځیزونه

۱- هغه علم چه عمل پری نه کیږی.
۲- هغه عمل چه إخلاص پکښی نه وی .
۳- هغه مال چه نه دالله تعالی په لارکښی دآخرت دښیگنی په غرض مصرفیږی او نه هم په دنیاکښی تری استفاده کیږی.
٤- دالله تعالی دمحبت نه خالی زړهٔ .
٥- هغه بدن چه دالله تعالی له اطاعت او خدمت نه عاجز او دریدلی وی .
٦- هغه محبت چه د الله تعالی رضا اودهغه د آوامرو إمتثال پکی شرط نه وی.
۷- هغه وخت چه په هغه کښی ښیگنی تر سره نشی او په بدیو په کی پښیمانی ونشی.
۸- هغه فکر چه دبی فائدی شیانو په سوچ بوخت وی .
۹- هغه خدمت چه نه دی الله تعالی ته نږدی کوی او نه درته دنیائی گټی ر سوی .
۱۰- له هغه چانه ویره اوله هغه نه دښیگنی امیدکول چه دهغه تندی(تقدیر)دالله په لاس کی دی او د هغه په قبضه کښی بندی دی چه نه ئی دخیر إ ختیار شته او نه ئی دفایدی رسولو، نه دمرگ او ژوند مالك دی او نه هم دآ خرت دورځی .
ددی ټولو بربادیو نه لویه بربادئ دوه نوری دی چه هغه دنورو بربادیو اصل گڼل کیږی او هغه عبارت دی (الف)د زړه بربادی (ب) دوخت بربادی. چه دزړه بربادی په آخرت باندی ددنیاپهٔ غوره والی کی ده او دوخت بربادی په اوږدو بی عمله امیدونوکښی ده .
ټول فسادونه د هوی او هوس او د اوږدو امیدونو په متابعت کښی نغښتی دی .
او همدارنگه ټولی ښیگنی دهدایت په متابعت کښی پرتی دی او انسان باید دالله تعالی دلقاء لپاره ځان برابرکړی.

د حق ناوی

دا دحق او د باطل مقابلې دي

چه راڅرګېستی ئی نړۍ کې زلزلې دي

دا بنګلو کی د پالنګ خبری نه دي

دا نړۍ کی د ننګونو حماسې دي

پری ټانګونه، جهازونه تاثیر نهٔ کړي

لکه اوسپنه مو کلکې حوصلې دي

چه له غربه دي روانې شرق ته لاړې

د کمون دا نا امیده جنازې دي

توره شپه د تیارو لاړه صبأ کیږي

چاودېدلې صباوون ته سپېدې دي

د «حق ناوی» به د هغه چا په کور وي

چا چه کړي ورته ډېرې شبګیرې دي

د بری درشل ته ګام رسي «افسوسه»!

د کلونو حساب نه دی ورځی شپې دي

د الله دین د ی اسلام دی

د تاریکو شپو انجام دی
غوڅونکی د هر دام دی

په پالنگ کی گټل نه شي
په شبگیر د صبح و شام دی

قربانی د سرومال ده
د ژوندی تحریك قیام دی

دا د هغهٔ دسر تاج دی
کوم یُو سر چه رب په نام دی

د مظلوم د زړهٔ تسل دی
د ضعیفو استحکام دی

د شهید په وینو پائي
د مؤمن د زړهٔ مرام دی

د منزل په لوری رسی...!
رهبری چه ئی کوم گام دی

دا دسرو وینو قیمت دی
چه راوستی کوم نظام دی

نه د شرق دی نه د غرب دی
د الله دین دی اسلام دی

دا آرمان د مسلمان دی
د (افسوس) په خوله کلام دی

په اسلام کې له کفارو سره د معاهدو څرنګوالی

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مبارکه زمانه کې دکفارو او مشرکینو نه علاوه له یهودو سره هم معاهدې شوې دي. دغه معاهدې او دسولې تړونونه چه په یوه بل باندې د عدم تعرض یا حملو نه کولو او د عقائدو د آزادۍ په اساس وشول د اسلام په پرمختګ کې ئې اهم رول اداکړی او ښې فائدمندې نتیجې ئې ورکړې دي.

له کفاروسره د معاهدو او تعهداتو په ساتنه باندې قرآن کریم اصرار کوي او حکم کوي چه ترڅو کفارو خپل تعهدات او تړونونه نه وي مات کړي یائې د ماتولو خیانت نه وي کړی نو مؤمنان به ورسره د تړون رعایت او مراعات کوي اوداسې به نه کوي چه بې له اطلاع او خبر ورکولو نه له هغوی سره معاهده ماته او د شکایت موقع ورته برابره کړي.رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې لړ کې له الهی فرمان سره سم داسلام دبین الاقوامی پالیسۍ څه مستقل اصول وضع کړي وو او ارشاد ئې فرمایلی دی چه: **من کان بینه وبین قوم عهد فلایحلن عقدة حتی ینقضی مدهم او ینبذ الیهم علی سواء**»

یعنی له یو قام سره چه معاهده وي نو پکاردي چه دهغې معاهدې دوخت او نیتې دسرته رسیدو نه مخکې دمعاهدې هیڅ یو بند نه پرانیزئ او د تړون یامعاهدې دبرابرۍ لحاظ وساتئ او که هغه قوم پخپله عهد ماتوي نو بیائې دبرابرۍ په نظر کې لرلو سره د هغوی معاهده ورته ورغورزول کیږي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې لړکې د ډېرې ټینګتیا نه وروسته فرمائی:« **لاتخن من خانك** » یعنی څوك چه درسره خیانت وکړي نو ته ورسره خیانت مه کوه .

په اسلام کې دغه اصول یوازې د وعظونو او تقریرونو یاکتابونو ښایست نه ؤ بلکه په عملي ژوند کې هم شامل وو او په سختۍ سره پرې عمل کیده. لکه چه یوځل د حضرت معاویه رضی الله عنه د خلافت په زمانه کې د روم په سرحدونو باندې داسلامي پوځونو راغونډیدل پیل شول چه په رومي سیمه باندې ناڅاپه حمله وشي ځکه چه دهغوی د جګړې نه کولو د تړون موده پای ته رسیدونکې وه. د حضرت معاویه رضی

الله عنه په دغه اراده باندی د رسول الله صلی الله علیه وسلم یو صحابی عمرو بن عنسبه رضی الله عنه سخت احتجاج وکړ او دنبی صلی الله علیه وسلم دغه حدیث یی ورته واوراوه چه د معاهدی په موده کی دننه معاندانه طرز عمل اختیارول غداری او خیانت دی نو په دغه وجه حضرت معاویه رضی الله تعالی عنه په سرحدونو باندی داسلامی لښکرو دراغونډولو پروگرام فسخ کړ.

اسلامی قانون صرف په یو صورت کی دناڅاپه حملی اجازت ورکوی چه دویم فریق په ډاگه معاهده ماته کړی وی او یائی ښرگند مخالفت او معاندانه عملیات کړی وی. په دغو حالاتو کی ضروری نه ده چه مسلمانان دمعاهدی دماتیدو اعلان یاخه اطلاع ورکړی بلکه ددشمن په خلاف به دمسلحانه جهاد پیل او اقدام کوی.

هغه وخت چه دمعاهدو موده پای ته ورسیده او اسلام له کفارو څخه بیزاری اعلان کړه نو قرآن کریم داسی حکم اعلان کړ.

براة من الله ورسوله الی الذین عهدتم من المشرکین فسیحوا فی الارض اربعة اشهر واعلموا انکم غیر معجزی الله وان الله مخزی الکفرین ○ واذان من الله ورسوله الی الناس یوم الحج الاکبر ان الله بری من المشرکین ورسوله فان تبتم فهو خیر لکم وان تولتم فاعلموا انکم غیر معجزی الله وبشر الذین کفروا بعذاب الیم ○ الاالذین عهد تم من المشرکین ثم لم ینقصو ک شیئاً ولم یظاهر وا علیکم احداً فاتموا الیهم عهد هم الی مدتهم ان الله یحب المتقین. (التوبه(۱-٤)

دالله او دهغه درسول صلی الله علیه وسلم له خوا هغو مشرکانو ته ستاسی(مؤمنانو)د غاړی خلاصون اعلان دی چه ستاسی سره ئی معاهدی کړی وی.(نو ای مشرکانو!) تاسی څلور میاشتی نور هم په هیواد کی گر-ځیدی راگرځیدی شئ او و پوهیږی چه تاسی د الله تعالی دین مغلوبو لای نه شئ او کافران رسواکیدونکی دی. د الله تعالی او دهغه درسول صلی الله علیه وسلم له خوا ددی لوی حج په ورځ ټولو خلکو ته عام اعلان دی چه الله تعالی او د هغه رسول دمشرکانو نه بیزاره دی. اوس که تاسی توبه کوئ نو دغه کار درته ښه دی او څوك چه مخ اړوی نو ښه پوه شئ چه تاسی الله تعالی نه شئ مغلوبو لای.او(ای پیغمبره!) کافرانو ته دسخت عذاب اعلان ورکړه. خو بی له هغو مشرکانونه چه ستاسی سره ئی معاهدی کړی دی او بیائی دمعاهدو په ترسره کولو کی ستاسی سره څه کمی نه دی کړی او نه ئی ستاسی په خلاف دچامرسته کړی ده نو دداسی خلکو سره دخپلی معاهدی دمودی ترسره کیدو پوری وفا وکړئ ځکه چه الله تعالی تقوی کوونکی خوښوی.

په دغو آیاتونو کی دا خبره ښرگنده شوه چه درسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کی له مشرکانو سره معاهدی شوی دی او دکومو معاهدو د پای ته رسیدلو نیتی چه پوره شوی د هغو دفسخ کولو او دمؤمنانو دغاړی خلاصون اعلان وشو او د معاهدو د سرته رسیدلو نه وروسته بیا هم دشمنانو ته د څلورو

میاشتو دمودی مهلت ورکړی شو. او د کومو کفارو او مشرکانو سره چه دمعاهدو وخت لاپاتی وه او هغوی په معاهدو کی څه خیانت او کمی نه ؤ کړی، هغو معاهدوته د دوام ورکولو او جاری ساتلو اعلان وشو او حتی د سخت عذاب داعلان نه هم مستثنیٰ وګڼلی شول. او مؤمنانو ته په دغه برخه کی دتقوی تلقین او هدایت وشو. یعنی الله تعالی دا کار د تقوی خلاف ګڼی چه کفارو معاهده نه وی ماته کړی یائی خیانت او مخالفت نه وی کړی او له هغوی سره دمعاهدی د نیتی له رارسیدونه مخکی معاهده ماته کړی شی. دالله تعالی په نزد ښه خلك هغه دی چه په هر حالت کی په تقوی ټینګ وی.همدغه شان دقرآن کریم ارشاد دی فرمائی:ترڅو چه ستاسی سره کافران او مشرکان سم چلیږی تاسی هم ورسره‌ښه سم چال چلن کوئ .

کیف یکون للمشرکین عهد عند الله وعند رسوله الاالذین عهدتم عندالمسجد الحرام فما ستقاموا لکم فاستقیموالهم ان الله یحب المتقین○

(التوبه- ۷)

د الله تعالی او د هغه درسول په نزد ددی مشرکانوسره دمعاهدی څه پاتی دی مګر بیله هغه مشرکانو چه ستاسو سره ئی مسجد حرام ته په نزدی ځای کی معاهده کړی وه ترڅو چه هغوی ستاسی سره سم چال چلن کوی تاسی هم ورسره سم چال چلن کوی. الله تعالی(په ټولو کارونوکی) تقوی کوونکی خوښوی»

ددغو قرآنی آیاتونو له ارشادنه معلومه شوه چه الله تعالی خپل رسول صلی الله علیه وسلم په دی څمکه کی او دالله تعالی په دی دنیا کی داسلام دسپیڅلی دین دخپرولو اوغالبولو دپاره مبعوث کړی او رالیږلی دی.

هو الذی ارسل رسوله بالهدی ودین الحق لیظهره علی الدین کله ولو کره المشرکون○

یعنی الله تعالی هغه ذات دی چه خپل پیغمبر ئی دهدایت او حق دین سره رالیږلی دی چه دغه حق دین په هر بل هغه څه باندی چه دین ورته ویل کیږی یا هر جنس دین باندی غالب کړی . که څه هم چه مشرکان او کافران په دغه کار باندی ناخوښه او خپه وی . یعنی داسلام دین به په دی نړۍ کی چه د الله تعالی دلوی سلطنت دقلمرو یوه برخه ده هرو مرو غالب او خپریږی که څوك خو شحاله وی او که خپه. ځکه چه اسلام د الله تعالی قانون دی او دانړۍ دالله تعالی د پادشاهۍ دقلمرو یوه برخه ده نو په دی برخه کی به دهغه چا قانون رایج وی چه دهغه پادشاهی وی . پادشاهی چه دالله تعالی ده نو قانو ن به هم دهغه وی. البته داخبره څرګنده ده چه دا قانون به نافذ هرومرو وی خو ددی به دامعنی نه‌وی چه ګوندی خلك به په زور او جبر او اکراه اسلام ته راښکل کیږی . الله تعالی فرمائی چه په دین کی زوراوجبر نشته . داسلام په دین کی دننه څوك په دی جبراً اوکرهاً مکلف نه دی چه حتمی به مسلمان وی بلکه د «ذمی» په حیث ژوند کولی شی او جزیه به ورکوی او ددی علت یوازی دانه دی چه د اسلام په قانون کی دننه داکثریت او اقلیت فرق موجود دی. مسلمان به

دروند او محترم وی او کافر به سپك وی.بلکه دی خبری ته توجه کول پکاردی چه اهل ذمه دوطن ددفاع په جنگ کی دگډون او زکوة او نور ایگار بیگار نه معاف دی، صرف دا یو وړوکی قلنگ پری حواله شوی دی او دا رعایت د اقلیتونو سره نه په پخوانو نظامونو کی موجوډ او نه په موجوده نظامونو کی وجود لری.اسلام به د تبلیغ او تحریض په لار روان وی او هیچاته دانه وائی که څوك مسلمان نه وی نو هرومروبه وژل کیږی او په دی صراحت سره هدایت کوی چه «**لااکراه فی الدین**» په دین کی دننه زور او جبر نشته په بل ځای کی فرمائی:

«**افانت تکره الناس حتی یکون مومنین**» آیا ته خلك دیته په زوراړکوی چه ایمان راوړی ؟

دا نکته په خصوصیت سره په توجه کی ساتل پکار دی چه ایمان زورنه قبلوی او په دی برخه کی زور چلیدی نشی.البته دا خبره باید یاد وساتو چه د اسلام ددین یعنی د الله تعالی د قانون د نافذولو او د الله تعالی دحکومت او سلطنت په دی قلمرو کی چه ددغی پادشاهۍ او سلطنت آسمانی قانون د نافذکولو په لاره کی څوك مزاحم کیږی او ددغه قانون دخپرولو مخه نیسی، نو ورسره سخت مزاحمت کیږی او دی ته نه پری ښودل کیږی چه ددغه قانون دخپریدو په مخه کی خنډ او دیوال شی، په دغه وخت کی الله تعالی ددغه شان مجرمانو او ظالمانو په خلاف دجهاد او مقدس جنگ اعلان کوی او مؤمنان د قتال اوجنگ د پاره هڅوی او تحریضکوی چه د الهی قانون دخپرولو په لاره کی دمزاحمت کونکوسره جنگ او قتال وکړئ . او هرچیرته چه ورسره دمقابلی دپاره مخامخ شی بی دریغه ئی قتل کړی.خو بیا هم د جهاد د اصولواو د دغه مقدس جنگ د قانون په رڼاکی جنگ وکړئ. تباهی او فساد ونکړی،ماشومان او ښځی او کمزوری خلك قتل نکړئ. ددی قتالْ په لړکی بیا هم دسختی کوونکو او مزاحمت کوونکو سره دسخت مزاحمت حکم کوی او د نرمی کوونکو سره د مسالمت او نرمۍ حکم کوی. او فرمائی:

«**وان جنحو السلم فاجنح لهاوتوکل علی‌الله**».

که چیری دشمن دسولی او مسالمت خواته مائل شی نو تاسی ورسره هم سولی او سلم ته تیارشی او په خپل رب توکل کوئ .

دجهاد اوسولی په دوران کی هم الله تعالی داسلامی سیاست په چوکات کی معاهدو او دسولی تړونونو ته ځای ورکړی دی. اسلام چه له یوی خوا دمعاندو کافرو او محاربو دشمنانو سره جنگ کوی، نو له بلی خوادغیر محاربو او سوله غوښتونکو کافرانو،مشرکانو او اهل کتابو سره دسولی د معاهدو او جنگ نه کولو د تړونونو د لاسلیك کولو هدایات کوی.او زمونږ د پیغمبر محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم دژوندله مطالعی نه ددغه ډول تړونونو اودسولی دمعاهدو یاعدم تعرض او جنگ نه کولو دتعهد اتو مثالونه څرگندیږی چه مونږه ئی دسیرة په کتابو نو، آحادیثو او قرآن کریم کی لیدلی شو.

په زړه باندې دګناهونو اغیزه

زړه په انسانی جسم کی ترټولو مهم غړی دی چه له ژوند سره ئی دانسان ژوند تړلی او دمرګ په صورت کی ئی انسان دژوند له خوږو لاس په سر کیږی. همدغه شان د انسان داصلاح اوګمراهۍ محور هم زړه دی، که زړه اصلاح او سالم وی نو دانسان عمل او کردار او ټولی هلی ځلی په سمه لاروی او که زړه دګمراهۍ په طرف راغب شی نو انسان دګمراهۍ په څاه کی غورزی او اعمال او کردار ئی فاسد کیږی.درسول الله صلی الله علیه وسلم دا مشهور ارشاد دصحیح بخاری لومړنی حدیث دی چه فرمائی:

انما الاعمال بالنیات وانمالکل امرئ مانوی.

اعمال په نیت پوری تړلی دی او انسان ته دهغه دنیت او ارادی په تناسب ثمره ورکول کیږی.

دغه ډول آنحضرت صلی الله علیه وسلم فرمائی:

الاوان فی الجسد مضغة اذا صلحت صلح الجسد کله واذا فسدت فسد الجسد کله الاوهی القلب. (صحیح بخاری- مسلم)

ترجمه:یادساتئ! په بدن کی دغوښی یوه ټوټه ده، که هغه اصلاح او سالمه وی نو ټول بدن اصلاح او سالم دی اوکه ګمراه او فاسده شی نو ټول بدن فاسد دی. واورئ ددغی ټوټی نوم زړه دی.

که په زړه کی داطاعت له احساس سره سره اخلاص وی، ریاکاری او تظاهر نه وی، کوم دنیوی غرض او هدف نه وی نو کار داجراو ثواب مستحق دی او د الله تعالی له خوا ددغه نیك عمل په مقابل کی له لس چنده څخه تر اویا چنده او تراوه سوه چنده پوری بلکه له هغه څخه هم زیات اجر او ثواب په برخه کیږی. درسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی :

کل عمل ابن آدم یضاعف، الحسنة عشر امثالها الی سبعة مائة ضعف.

(صحیح مسلم-کتاب الصیام)

خو که دکوم نیك کار دسرته رسولوپه وخت دنیوی هدف او لالچ د انسان زړه محاصره کړی، یایی د تظاهر او شهرت خیال پیداشی نو نه یوازی داچه سرته رسیدلی عمل ضایع کیږی بلکه دقیامت په ورځ ورته سزاء هم ورکول کیږی.

الله تعالی په قرآن عظیم الشان کی دانسان لپاره د اخروی نجات

مهم شرط دزړه طهارت او پاکوالی په نخښنه کړی دی. فرمائی:

یوم لاینفع مال ولابنون ۝ الامن اتی الله بقلب سلیم ۝

(الشعراء ۸۸-۸۹)

ترجمه: هغه ورځ چه چاته به مال او اولاد هیڅ ګټه ونه رسوی، غیر له هغه چا چه له پاك زړه سره دالله تعالی دربار ته حاضر شی.

څنګه چی دانسان اصلاح یا ګمراهی، دصالحه اعمالو قبلیدل یا رد کیدل او داخروی نجات یاعذاب مساله په زړه پوری اړه لری نو باید تر ټولو وړاندی داهم باید معلومه شی چی بداعمال په زړه باندی څه اغیزه پری باسی؟

ترڅو معلومه شی چه بد اعمال دانسان په اصلاح یاګمراه کیدو او اخروی حساب کتاب کی څه رول لوبوی؟

۱- دهر مسلمان په زړه کی دالله تعالی عظمت او محبت موجود دی چه البته دګناه په ارتکاب سره دغه عظمت او محبت ورو ورو پای ته رسیږی، ځکه دامکن نه ده چه دانسان په زړه کی دیدالله خوف موجود وی او انسان دی بیاهم دګناه مرتکب شی.

۲- کله کله دګناه دارتکاب په شکل کی دانسان په زړه کی د ندامت او شرمندګئ او حیا پټ احساس راڅوندی کیږی او بالآخره ورته دتوبه کولو اوله خپل رب څخه دبخښنی غوښتنی توفیق ورپه برخه کیږی، خو دګناهونو عادی انسان او هغوی چه له بدو اعمالو سره ئی تل سرو کار وی، ددغو پاکو احساساتو څخه بی برخی کیږی اوبیا وروباندی داسی وخت راشی چه دګناه کولو سره سره ورته نه خو دندامت او پښیمانئ احساس پیداکیږی اونه وریاندی شرمیږی بلکه برعکس وریاندی ویاړی هم. او په غونډو او محفلونو کی وریاندی په خندا ګانو او او چته غاړه افتخار هم کوی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی:

کل امتی معافی الاالمجاهرون وان من الاجهار ان یعمل العبد باللیل عملاً ثم یصبح وقد ستره ربه فیقول: یافلان قد عملت البارحة کذاوکذا.

.صحیح بخاری- کتاب الادب)

(مسلم- کتاب الزهد)

ترجمه: زما دامت هرسړی به وبخښل شی، غیر له هغو کسانو چه په ډاګه سره ګناه کوی او په ډاګه سره دګناه کولو یوشکل دادی چه انسان دشپی په تاریکئ کی دګناه مرتکب شی، بیاپه داسی حال کی وریاندی سهار شی چه الله تعالی ئی راز پټ ساتلی وی، خو دی پخپله اعلان وکړی چه ای فلانیه! بیګاه مادا او هغه کاروکړ.

۳- دګناه تسلسل دانسان په زړه کی کوږوالی پیداکوی او داکوږوالی داسی نه دی چه ګوندی دغوښی او پوستکی په هغه ټوټه کی چه دانسان په وجود کی هره شیبه په حرکت ده، کوم تخنیکی عوارض منځ ته راځی بلکه مقصد دادی چه دانسان دفکر ، نظر او توجه لوری کږیږی.

د الله تعالی فرمان دی:

فلما زاغو ازاغ الله قلوبهم والله لایهدی القوم الفاسقین ۝ (الصف-۵)

ترجمه: نو کله چه هغوی منحرف شول الله تعالی هم دهغوی زړونه کاږهٔ کړل. الله تعالی فاسقانو ته هدایت نه کوی.بیا فرمائی:

ولقد ذرانا لجهنم کثیرا من الجن والانس لهم قلوب لایفقهون بها ولهم اعین لایبصرون بها ولهم اذان لایسمعون بها اولئك کالانعام بل هم اضل اولئك هم الغافلون ۝

(الاعراف-۱۷۹)

ترجمه:او حقیقت دادی چه زیات شمیر پیریان او انسانان مونږ د دوزخ لپاره پیداکړی دی، هغوی زړونه لری خو تدبر وړیاندی نه کوی

او هغوی سترگی لری مگر ورباندی نه وینی، اوغوږونه لری مگر ورباندی نه اوری، هغوی دڅارویو په شان دی بلکه له څارویونه هم بدتر دی، داهغه خلك دی چه په غفلت کی پراته دی.

٤- یوازی دالفاظو دلوستلو یا دهغو په مطلب دڅان پوهولو نوم علم نه د ی بلکه حقیقی علم دادی چه انسان ته دحقیقت لار وروښایئی او له گمراهئ څخه ئی دنجات وسیله شی. په گناهونو کی ډوب انسان هر څومره که زیات الفاظ ولولی او که هرڅو په معناؤ او مفهوم کی لطیفی او باریکی نکتی پیداکړی، خو بیاهم دعلم له برکت او نور څخه د تل لپاره محروم دی. همداوجه ده چه الله تعالی دعلم دحصول لپاره د تقوی شرط عاید کړی دی. فرمائی:

واتقو الله ویعلمکم الله

(البقره -۲۸۲)

ترجمه:او له الله تعالی څخه وویریږئ، الله تعالی به تاسوته د حقایقو علم درپه برخه کړی.

امام شافعی رحمة الله علیه امام مالك رحمة الله علیه ته دعلم دزده کړی لپاره راغی، کله چه ورته دامام شافعی رحمه الله دحافظی او فکر قوت معلوم شو، امام مالك رحمه الله ډیر زیات خوشحاله شو او امام شافعی رحمة الله علیه ته ئی وویل: داسی احساسوم چه الله تعالی ستا زړه روښانه کړی دی. گوره چه دگناهونو په تاریکئ کی دلوستلو له لاری دغه نور له لاسه ورنه کړی. (الجواب الکافی ص ٥٦)

دامام شافعی رحمة الله علیه دادوه شعرونه دهرطالب حق او هر طالب العلم ته دتل لپاره دیادونی وړدی:

شکوت الی وکیع سوء حفظی
فارشدنی الی ترك المعاصی
واخبرنی بان العلم نور
ونور الله لایهدی لعاصی

(دیوان الامام الشافعی ص ۷۱)

ترجمه:ماخپل استاد وکیع ته د خپلی حافظی د کمزورئ څخه شکایت وکړ، هغه ماته له گناه څخه دڅان ساتنی توصیه وکړه اوپه دی ئی هم پوه کړم چه علم دالله تعالی نوردی او دالله تعالی نور غلط کارو کسانو ته نه شی ورکړی کیدای.

٥- ظاهر بین سړی فکر کوی چه سکون او آرامی په مال دولت او دنیوی بسیاتوب پوری تړلی ده، خو حقیقی اطمنان او سکون یوازی اویوازی دالله تعالی په ذکر او دهغه پاك ذات په اطاعت کی پټ دی. دالله تعالی فرمان دی:

الابذکر الله تطمین القلوب

(الرعد -۲۸)

یعنی پوه شئ چه دالله تعالی په ذکر سره زړونه مطمین کیږی.دالهی احکامو څخه سرغړونکی انسان ته دغه سکون او اطمینان نه شی په برخه کیدای، که څه هم دملیونونو روپو خاوند وی اویا ورسره دنورو دنیوی نعمتونو انبارونه پراته وی. دالله تعالی فرمان دی:

ومن اعرض عن ذکری فان له معیشةً ضنکاً ونحشره یوم القیامة اعمی.

(طه -۱۲٤)

ترجمه: او هغه کسان چه زماله یاداو ذکر څخه سر وغړوی، ددنیوی ژوند ساحه به ورباندی تنگه شی او دقیامت په ورځ به ئی ړوند راپورته کړو.

٦- په گناهونو اومفاسدو کی دپرله پسی ککړتیا په وجه دانسان له زړه څخه دگناه احساس او دگناه کراهت له منځه ځی او بدکارونه ئی عادت گرځی. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی:

ان المومن یری ذنو به کانه قاعد تحت جبل یخاف ان یقع علیه وان الفاجریری ذنوبه کذباب مر علی انفه فقال به هکذا.

(بخاری- کتاب الدعوات)

ترجمه:مؤمن خپلو گناهونو ته په داسی نظرگوری چه گوندی دکوم اوچت غره لاندی ناست دی او داویره ورسره ده چه دغه غر درباندی راپری نه وزی اوفاسق او فاجر سړی خپل گناهونه داسی گنی لکه کوم مچ ئی چه په پزه ناست وی اودلاس په اشاره ئی هغه شړلی وی.

۷-دکامل ایمان غوښتنه داده چه انسان نه یوازی داچه باید له بدو کارونو څخه ځان وساتی بلکه نورو ته هم باید دځان ساتنی تلقین ورکړی اوکه نه ئی شی منع کولی نو لږ ترلږه خو باید په زړه کی ورته بد وگوری اوداکمزوری ایمان دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی:**من رأى منكم منكرا فليغيره بيده فان لم يستطع فبلسانه فان لم يستطع فبقلبه وذلك اضعف الايمان.**

(مسلم)

ترجمه: که په تاسو کی کوم یو تن کوم بدکار ووینی باید دمټ په قوت ئی منع کړی، که دمټ زور ئی نه وی نو په ژبه دی ورسره جهاد وکړی او که داهم نشی کولی نو لږ ترلږه باید په زړه کی ورته بد ووایي او داکمزوری ایمان دی. په بل روایت کی راغلی دی څوك چه دبدو کارونو په خلاف جهاد کوی مؤمن دی او څوك چه په ژبه دمفاسدو په خلاف جهاد کوی مؤمن دی اوڅوك چه په زړه کی ورته بدوائی هم مؤمن دی.وروسته له دغه دایمان ذره په زړه کی نه پاتی کیږی. په دی معنی چه دایمان وروستی معیار دادی چه دمفاسدو څخه باید نفرت او کرکه وکړی، که دنفرت په ځای ورسره مینه وکړی نو ایمان ورسره نه پاتی کیږی.

اوپه زړه ئی دکفر ټاپه لگول کیږی، که څه هم دی دکوم لوی مسلمان خاندان غړی وی او نوم ئی هم عبدالله یاعبدالرحمن وی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی:

کله چه یو مؤمن دگناه مرتکب کیږی نو په زړه ئی یو داغ پری وزی، که بیاتوبه او استغفار وکړی اوله گنا ه څخه لاس واخلی نو زړه ئی پاك شی . اوکه په گناهونو کی وړاندی لاړشی نو دغه توردداغ لاپسی لوی شی، تردی چه ټول زړه احاطه کړی او داهغه ران یعنی زنگ دی چه الله تعالی په سورت المطففین کی دهغه ذکر کړی دی.

(مسند احمد ج ۲)

امام بن جریر صحیح طبری، امام ابن کثیر رحمهم الله او دتفسیر نور امامان داسی نظر ورکوی کله چه دانسان په زړه دغه زنگ خپورشی او دگناهونو په وجه تورشی نو هغه مرحله رارسیږی دکومی په باب چه الله تعالی فرمائی:

ختم الله على قلوبهم وعلى سمعهم وعلى ابصارهم غشاوة

(البقره -۷)

یعنی الله تعالی دهغوی په زړونو او غوږونو مهر لگولی او په سترگوئی ورته پرده غوړولې ده.

نو معلومه شوه چه په زړه باندی دگناهونو اغیزه له یوه داغ څخه پیل کیږی اوبیا ورو ورو ټول زړه احاطه کوی او بالاخره داسی وخت راورسیږی چه دگناهونو دپرله پسی ارتکاب په وجه دالله تعالی له طرفه په دغه زړه باندی مهر ولگولی شی او دالله تعالی له هدایت څخه دتل لپاره محروم شی.

(اعاذ نا الله بفضله وكرمه من ذلك).

اسلام دبې طرفه کافرانو سره څه چال چلن کوي؟

په اسلام کې دبې طرفۍ یاغیر جانبدارۍ اصطلاح نشته، بلکه بې طرفه پرګنه هم دغیر معاندینو په لست کې راځي ځکه چه جنګ نه کوي. اسلامي قانون ټول نامسلمانه ملتونه په څو ډلو ویشلي دي چه یوه ډله ئې معانده بله ئې مسالمه او بلې ته ئې معاهده وائي. معاندین چه تر څو پخپله معاهده ولاړوي او دشرایطو رعایت کوي نو دمعاهدې دمندرجو شرایطو سره سم ورسره چال چلن کیږي او حتی دعامو کافرانو سره دجګړې په دوران کې هم دمعاهدې ډلې په خلاف هیڅ حمله نه کیږي او هغوی دمعاهدې درعایت له امله دمجاهدینو له تورې او تعرض نه بچ پاتې وي.

پاتې شو غیر معاهد کافر چه د مسلمانانو او هغوی تر منځ څه قسم معاهده یا تړون نه وي شوی نو دهغوی سره اسلام دمعاهدو کافرانو په څیر سلوك او چال چلن نه کوي.

لکه چه مخکې مو ولوستل چه د هغوی په حق کې حکم دادی چه:

«وان جنحوالسلم فاجنح لها وتوكل على الله انه هو السميع العليم○وان يريدوا ان يخدعوك فان حسبك الله .هو الذى ايدك بنصره وبالمومنين○.

(انفال- ٦١- ٦٢)

که چیرې هغوی سولې ته تمایل څرګندوي نو تاسې هم ورسره سولې خواته وروړاندې شئ او په الله تعالی توکل کوی هغه هرڅه اوري او پوهیږي. او که چیرې تاسې ته دفریب درکولو اراده لري نو پروا مه کوئ ستاسې له پاره ستاسې الله پوره دی هماغه الله دی چه ستاسې مرسته ئې کړیده او دمؤمنانو په ذریعه ئې تاسې پیاوړي کړي ئې.

اسلام مسلمانانو ته اجازه ورکوي چه داسلام او جهاد په لاره کې دجنګ په دوران کې چه دکفارو دیوې ډلې یاڅو ډلو یاپرګنو سره په جګړه بوخت اوسئ نو کولی شئ چه دکفارو دبلې هغې ډلې سره چه له ذوی سره جنګ نه کوي دسولې معاهده وکړئ اوحتی دمعاهدو کفارو په خلاف دچا مرسته ونه کړئ لکه چه قرآن کریم فرمائي:

وان استنصروكم فى الدين فعليكم

النصر الاعلى قوم بينكم وبينهم ميثاق والله بماتعلمون بصير ۞ .

« الانفال - ۷۲ »

«که چیری (ددارالکفر او سیدونکی مسلمانان) ستاسی نه ددین په کارکی مرسته وغواړی نو دهغوی مرسته په تاسی باندی فرض ده خو دهغه قام په خلاف نه چه ستاسی او دهغوی تر منځ معاهده وی . تاسی چه هر څه کوئ الله هغه ټول ښه وینی». ددی حکم مقصد صرف دادی چه تاسوهغو مسلمانانو ته داسی امداد نه شئ ورکولی چه هغه جنگی او نظامی مرسته وی او د معاهدی په صورت کی د هغوی د دښمن په خلاف هم قدم مه پورته کوئ . چه د نورو په چارو کی دمداخلی معنی او مفهوم ولری.خو داسی هم نه چه ددار الکفر په مسلمانانو باندی به ظلم کیږی او ددارالاسلام مسلمانان به ورته په سړه سینه ناست وی . بس خبره دومره ده چه دا مسلمانان به معاهده نه ماتوی نور به ټولی هغه مرستی کوی چه دسیاسی، اخلاقی او مادی مرستو مفهوم ولری او گنجایش ئی دنړئ په مشهورو بین المللی تعاملونو کی موجودوی.

همدغه شان چه معاهد کافر ملت ترڅو پخپله معاهده ټینگ وی او د مسلمانانو په خلاف جگړه نه کوی او نه ئی دشمنانو سره مرسته کوی او نه په تړون کی څه خیانت او غداری کوی نو مسلمانانو ته ببیخی اجازه نشته چه په دغه قام باندی تعرض وکړی یا ورسره ددشمن غوندی چال چلن وکړی تر څو چه معاهده پوره شوی نه وی او دمعاهدی دنیتی دختمیدو اعلان ورته نه وی شوی. حکم دادی.

«الاالذین عهد تم من المشرکین ثم لم ینقصوکم شیناولم یظاهروا علیکم احدافاتموالیهم عهدهم الی مدتهم ان الله یحب المتقین.

«التوبه ،٤ »

مگرهغه مشرکان چه تاسی ورسره تړون کړی ؤ او هغوی دعهد په وفاکی څه کمی ونه کړ او نه ئی ستاسی په خلاف ستاسی د دشمنانو مرسته وکړه. نو دهغوی سره خپله معاهده ترسره کړئ او په معاهده ټینگ واوسئی.الله تعالی په هر کار کی تقوی کونکی خوښوی .

که چیری مسلمانان د یوه کافر او ملحد هیواد سره په جگړه او جهاد بوخت وی او بل کافر هیواد د مسلمانانو د دغه دشمن هیواد مرسته نه کوی او په اسلامی اصطلاح کی غیر محارب یا معاهد یعنی بی طرفه وی نو مسلمانانو ته اجازه نشته چه د هغوی په حدودو باندی یا حقو قو باندی تیری وکړی. که چیری ددغه دشمن پوځ ددغه معاهدکافر هیواد ته وتښتی اوهلته پناه واخلی نو داسلامی مجاهدینو لښکری به هلته هغوی نه تعقیبوی . حکم دادی .

« فان تولو ا فخذ وهم وقتلوهم حیث وجد تموهم ولاتتخذوا منهم ولیا و لا نصیرا ۞ . الاالذین یصلون الی قوم بینکم وبینهم میثاق ۞

(النساء ۸۹ - ۹۰)

که چیری هغوی له جنگ نه لاس وانه خلی نو نیسئ ئی او وژنئی ئی او دوستی او مرسته ورسره مه کوئی. بی له هغی ډلی نه چه هغه دکوم داسی قوم

سره یو ځای شی چه ستاسی سره ئی معاهده وی.

په اسلام کی په تعهداتو باندی د وفا او پوره سرته رسولو ډیر ټینګاراو اصرار شوی دی او قرآن مجید په دی لړکی ډیر احکام ورکړی دی . لکه چه فرمائی . **بلی من اوفی بعهده واتقی فان الله یحب المتقین** .(ال عمران - ۷٦)

هواخوك چه خپلی معاهدی او وعدی پوره کړی او تقوی وکړی نو الله همدغه شان متقیان خوښوی **والموفو ن بعهدهم اذاعهدوا والصبرین فی البأ ساء والضرآء وحین البأس. اولئك الذین صدقوا. واولئك هم المتقون.**

(البقره- ۱۷۷)

او کوم خلك چه دتعهدنه وروسته په هغه باندی وفاکوی او په سختئ او تکلیف او جنګ او مصیبت کی ثابت قدم اوسی نو هغوی رښتینی خلك دی اودغه خلك تقوا کونکی دی.

واوفوابالعهد.ان العهدکان مسئولا.

(بنی اسرائیل -۳٤)

او په وعده وفاوکړی.ځکه چه دوعدی او عهد پو ښتنه کیږی:

دبدر په غزا کی چه دکافرودشمنانو شمیردمجاهدینو په نسبت دری چنده زیات ؤ او مسلمانان دخپل شمیر زیاتولو محتاج وو، په همدغه حال کی حذیقه بن الیمان او دهغه پلارحسیل بن جابر داسلام دلښکر خواته راروان شو چه دمسلمانانو سره مرسته وکړی. په لاره کی کفارو منع کړل او ورته ئی وویل چه تاسی خا مخا درسول الله صلی الله علیه وسلم د مرستی لپاره ځئ. هغوی ورته وویل چه نه مونږ خو دمدینی منوری اراده کړی ده هلته ځو اودمحمدصلی الله علیه وسلم سره مرستی ته نه یوراغلی. کفا رو تری په دی قول عهد واخست چه په جنګ کی به شرکت نه کوئ.دغه دواړه چه دکافرو نه په دی خبره خلاص شول او د بدر میدان ته رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راورسیدل نو دا قصه ئی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته بیان کړه هغوی ورته وفرمایل:

تاسی مدینی ته ځئ لاړشئ . مونږ به له هغوی سره دا عهد پوره کړو او دهغوی په مقابل کی به د الله نه مرسته وغواړو.

کوم وخت چه دکافرانو سره دمعاهدی وخت پوره شو یا داچه دا خطرمحسوس شی چه دوی اوس دمعاهدی په حالت کی هم دمحاربو کفارو سره داسلام دمجاهدینو په خلاف مرسته کوی نو حکم دادی چه: **واماتخافن من قوم خیانة فانبذ الیهم علی سواء** (انفال-۵۸)

که چیری تاسی ته دکوم قام نه دبدعهدی ویره وی نو دهغوی معاهده ورته دبرابرئ په نظرکی نیولوسره مسترده کړئ .

دبرابرئ د نظرکی نیولو په لړ کی بیلو بیلو مفسرینو رحمة الله علیهم اجمعین نظرئی ورکړی دی:

علامه ابن حجر فرمائی:

ای اطرح الیهم عهدهم وذلك بان یرسل الیهم من یعلمهم بان العهد قدانتقض

یعنی معاهده ورته ردکړئ . او داسی ځواب ورته ولیږئ چه معاهده ماته

شوی ده.

علامه ابن کثیر رحمة الله علیه ئی داسی تفسیروی:

ای اعلمهم بانك قد نقضت عهد هم حتی یبقی علمك وعلمهم بانك حرب لهم وهم حربلك وانه لا عهد بینك وبینهم علی السواء ای تستویانت وهم فی ذا لك.

یعنی هغوی ته خبر ورکړئ چه تاسی معاهده فسخ کړې ده چه په دی علم کی تاسی او هغوی برابرشئ او څرګنده شی چه نور ستاسی او دهغوی ترمنځ کومه معاهده پاتی نه ده.

ازهری داسی وائی:

اذا عاهدت قوما فخشیت منهم النقض فلا توقع بهم بمجرد ذلك حتی تعلمهم○

هغه وخت چه ستاسی سره دکوم قوم عهد وی اوستاسی سره ددغه عهد دماتولو ویره راپیداشی نو دویری پیدا کیدو سره سم په هغه مه ورمنډه کوئ بلکه لومړی ئی خبر کړئ مجتهدینو فقهاؤ یوازی اطلاع ورکول هم کافی نه دی ګڼلی بلکه دعهد ماتونکی قوم ته ئی دمهلت ورکولو سپار ښتنه هم کړی ده چه په دغه مهلت کی هغوی دمعاندانه روئی نه لاس واخلی او اصلاح اوسوله وغواړی نو ورسره سوله وکړئ.

امام مالك رحمه الله وائی چه زما په عقیده دمعاهدی په فسخ کولو کی تادی او عجله پکارنه ده بلکه اتمام حجت پکاردی. ځکه چه الله تعالی فرمائی چه **«فاتموا الیهم عهد هم الی مدتهم»**

که چیری په مهلت کی د معاهدی له فسخ او جګړی نه لاس وانخلی او په بی وفا ئی باندی اصرارکوی نو بیاستاسی عذر پری ثابت دی او اختیار دی درته چه حمله پری وکړئ.

په دی لړ کی دحضرت عمررضی الله تعالی عنه فیصله هم دا ده چه عهد ماتونکو معاهدینو ته دی مهلت ورکړی شی دحضرت عمر فاروق رضی الله عنه دخلاقت په زمانه کی عمیر بن سعد هغه ته ولیکل چه زما په سیمه کی غربسوس نومی یوځای دی چه دهغه ځای خلك دشمن ته زمونږ پټ اطلاعات برابروی او مونږ ته ددشمن خبرنه راکوی. حضرت عمر فاروق رضی الله عنه ورته په ځواب کی ولیکل چه ته پخپله ورشه هغو خلکوته ووایه چه مونږ به دیوی بزی په ځای دوه او د یوی غوا په ځای دوه غوا درکړو او هغوی یعنی دشمن چه تاسی ته څه درکوی مونږ به دهغه دوه هغومره درکوو خو تاسی دغه ځای پریږدئ که هغوی ستاخبره ومنله نو ښه به وی او که وئی نه منله نوخبر ورکړه چه زمونږ اوستاسی معاهده ماته شوه.بیا ورته دیو کال مهلت ورکړه او چه دغه موده پای ته ورسیده نو له دغه ځایه ئی وباسه(فتوح البلدان لبلاذرص ١٦٣١٦٢).

درسول الله صلی الله علیه وسلم فرمان دی چه وائی:

من قتل معاهدا لم یرح رائحة الجنة وان ریحها لتوجد من مسیرة اربعین عاما.

(بخاری)

ځوك چه معاهد ووژنی هغه ته به دجنت بوی هم ونه رسی په داسی حال کی چه دجنت خوږ بوی د څلویښتو کلونو دسفر په مسافه محسوس کیږی.

دا دی هغه چال چلن چه اسلام ئی د بی طرفو او جګړه نه کونکو کافرو سره هدایت کوی او احکام ئی په قرآن او حدیث نبوی کی بیان شوی دی.

محترم حاجی حیات الله وویل:

د کابل د ښار د امنیت پخاطر غوره دا ده چه له ټولو جهادی تنظیمونو څخه یوه قوی اردو تشکیل شی څو د پخوانیو مسلحو قطعاتو ځای ونیسی.

د دعوت مجلی خبریال رحیم گل (توحیدیار) پدی وروستیو ورځو کی دجماعة الدعوة الی القرآن والسنة (اهلحدیث) افغانستان د عامه ارتباط له مسؤل ښاغلی حاجی حیات الله خان سره د کابل د موجوده وضعی په اړوند یوه لنډه مرکه کړی چه دادی د دعوت مجلی گرانو لوستونکو ته وړاندی کیږی:

پوښتنه: محترم حاجی صاحب! د افغانستان په اوسنیو حالاتو رڼا واچوئ؟

ځواب: بسم الله الرحمن الرحیم دافغانستان په اوسنیو حالاتو فقط دومره ویلی شم چه که د تنظیمونو مشران خپل منځی اختلافات شاته وغورځوی او وحدت، یووالی او اتفاق د وخت او شرایطو ضرورت وگڼی او په دی تاکیدوکړی چه د اسلامی حکومت د دفاع او د امنیت د استحکام لپاره د مجاهدینو اتفاق او اتحاد یواځینی لار ده نو انشاءالله په افغانستان کی به د بیا ودانولو لپاره ښه اقدامات وشی.

پوښتنه: د کابل د اوسنۍ خرابی وضعی په اصلی عواملو و غږیږئ؟

ځواب: د کابل د اوسنی وضعی له عواملو نه یو هم بی اتفاقی ده چه د مذهبی، قومی، ژبنی، سمتی او تنظیمی گټو د لاس ته راوړلو په خاطر د مملکت یووالی او د هیوادوالو ژوند په خطر کی غورځیدلی او د کابل په گوټ گوټ کی د زنانه ؤ او ماشومانو ژوند په مرگ بدلیږی او د کابل ټول خلك په دغه وجه له تشویش او خفگان سره مخامخ دی. ددغی اوسنی خرابی وضعی عمده عامل صرف او صرف د تنظیمونو په منځ کی بی اتفاقی ده. دا ځکه چه هلته د یوی قوی اسلامی اداری او حکومت نشتوالی دی اوس دغه څو ورځی کیږی چه استاذ ربانی د حکومت واگی په لاس کی اخیستی او په ټولو تنظیمونو ئی غږ کړی چه راشی او په کابل کی خپل جهادی قوت اضافه کړی، له هغی نه وروسته استاذ عبدالصبور «فرید» هم د صدارت څوکی اشغال کړه نو اوس داسی معلومیږی چه د کابل وضعه د پخوا په نسبت مخ په ښه کیدو ده، که په کابل کی دیو رېښتینی اسلامی حکومت د جوړیدو لپاره صادقانه هلی ځلی پیل شی، نو زه دومره ویلی شم چه په هماغه ورځ به د کابل وضع نوره هم ښه شی.

د مثال په ډول کله چه دکنړ ولایت له کمونستانو نه آزاد شو او د امام الجهاد شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) تر قیادت لاندی په کی یوه اسلامی اداره

جوړه شوه او د شرعي احکامو په نفاذ ئي پيل وکړ نو هيڅا هم د اسلامي اصولو خلاف لار غوره نکړه او په کنړ کې د اسلامي امارت قيام چه د شهيد شيخ جميل الرحمن(رحمه الله) يوه داسې کارنامه وه چه دافغانستان په تاريخ کې ئې ساري نه ليدل کيږي، مونږ غواړو چه په کابل کې هم هماغسې يو اسلامي حکومت منځ ته راشي، جماعة الدعوة الى القرآن والسنة به له خپلو ټولو امکاناتو سره د داسې اسلامي حکومت د ملاتړ اعلان وکړي.

پوښتنه: آيا د حکومت جوړولو دغه اوسنۍ طرحه تائيد وي؟ او که ستاسو په نظر ددغه کار لپاره بله کومه لار موجوده ده؟

ځواب: د کابل دحکومت د جوړولو فيصله بايد د قرآن او حديث په اصولو ولاړه وي مونږ کولای شو چه په کابل کې د اکثرو جهادي مشرانو، قومندانانو، علماؤ، قومي مشرانو سره وگورو او دوی ته دا په ډاگه کړو چه د ځوارلس کلن جهاد يواځينی هدف د الله تعالى درضاء حصول او اعلاء کلمة الله ؤ، دا په حقيقت کې د الله تعالى ازمېښت دی مونږ بايد خپل ټول وسايل داسلام او اسلامي ژوند دښېرازۍ او جوړښت او د دين دنشراو اشاعت په لاره کې پکار واچوو، قرآن او نبوي سنت بايد د قانون ستره مرجع وگڼو او د افغانستان ټول جهادي تنظيمونه په يوه نظر سره راغونډ او د ټولو ولايتونو د علماؤ، سپين روبو او قومندانانو په شمول او مشوره يوه عالي شوری جوړه شي څو هغوی د مرکزي اسلامي حکومت لپاره د اداري تشکيل د څرنگوالي فيصله وکړي.

پوښتنه: آيا لويه جرگه به وکولای شي چه د هيواد اوسنۍ وضعی ته تغير ورکړي؟

ځواب: زما په نظر لويه جرگه نه شي کولای چه د افغانستان د مسلمان ملت ستونزه حل کړي ځکه چه د افغانستان مسلمان ملت ځوارلس کاله د هجرت تکليفونه او سختي وگاللي، په لکوشهيدان او معلولين او معيوبين يې ورکړل،پدې خاطر چه په افغانستان کې د يو بې دينه حکومت پرځای يو سوچه اسلامي حکومت قايم شي او د دوی په زخمونو به د مرهم پټۍ ولگوي،او س که په غرب کې پراته افغانان، هغوی چه نه ئې د هجرت او جهاد ستونزې گاللي او نه ئې په غوږو د توپك ډز اوريدلی، د لوئې جرگې په نوم واکداري کوي او غواړي چه د اسلامي نظام پرځای يو غربي نظام نافذ کړي، د دا ډول جرگو منلو ته به دا ملت غاړه کښېنږدي پدې اساس زه فکر کوم چه که په افغانستان کې خارجي لاس وهنه بنده او د لوئې جرگې پرځای د اهل الحل والعقد څخه يوه اسلامي شوری جوړه شي، دوی به د معضلې په حل کې ښه اقدام وکولای شي.

پوښتنه: محترم حاجي صاحب: تاسو دخارجي لاس وهنې نوم واخيست او لکه چه معلومه شوې ده پدې وروستيو وختو کې ايران د مذهب تر نامه لاندې د افغانستان په کورنيو چارو کې مداخله کوي، پدغه برخه کې ستاسو نظر څه دی؟

ځواب: زه يواځې ايران نه، بلکه د افغانانو ټولو دوستانو ته دا غږ کوم چه د افغانستان مظلوم ؤلس ډېر کړيدلی او ځوريدلی نور دې دوی خپله لاس وهنه بنده کړي خصوصاً له ايران څخه په کلکه غواړم چه افغانان دې پرېږدي چه د خپل سوري سوري بدن د علاج او مداوا لپاره عملي او روغونکې لارې چارې وسنجوی او د روس له سرنوشت څخه عبرت واخلي، که دوی د اقليتونو د ملاتړ په عنوان افغانان په خپلو منځو کې جنگول غواړي نو ليرې ندې چه دوی به هم په دغه اور کې وسوزي. دشيعه او نورو اقليتونو لپاره دا پکار دي چه د پخوا په خير په آرامۍ سره ژوند وکړي او د نورو

افغانانو ورونړو تر څنګ د خپل ویجاړ شوي وطن په آبادولو کې د زړه له اخلاصه برخه واخلي او خپل منځي کشالې د تفاهم او سولې له لیارې د اسلامي اخوت او ورورۍ په فضاء کې حل کړي، کتاب الله او سنت رسول هغه تلپاتې ډیوې دي چه د هغوی په رڼا کې هر ډول ستونزې حل کیدای شي.

پوښتنه: د کابل د ښار د امنیت لپاره باید څرنګه تدابیر ونیول شي؟

ځواب: د کابل د ښار د امنیت پخاطر غوره دا ده چه له ټولو جهادي تنظیمونو څخه یوه قوي اردو تشکیل شي څو د پخوانیو مسلحو قطعاتو ځای ونیسي، دغه اردو باید بالکل په سوچه اسلامي روحیه سنبال وي چه په تدریج سره نور بې بندوباره او پراګنده مسلح قوتونه د کابل له ښار څخه بهر کړي او د وسلي نمایش او تظاهرات یو طرفه کړي، زمونږه له نظره دا ښه کار نه دی چه مجاهدین په پخوانیو قطعاتو خلع سلاح کړای شي او یا دغه قوتونو ته اهمیت ورکړای شي، ددې عمل لپاره باید په عاجله توګه جهادي قوتونه وروزل شي.کوم تنظیمونه چه د پخواني حکومت په وسله والو قوتونو تکیه کوي او یا هغوی ته د مجاهدینو په نسبت زیات اهمیت ورکوي باید پدې پوه شي چه دا عمل به همدوی متضرر کړي او شرعاً ښه عمل نه دی. دا هم باید په ډاګه وی چه یوازې د جوزجاني ملیشې موجودیت سوال نه دی بلکه که یوی خوا ته جوزجاني ملیشه ده بله خواته د جبار او رسول ملیشه هم په عیني شکل نازول کیږي دا دواړه قوتونه د ملت په ګټه خدمات نشي انجامولی باید بې اعتباره شي مونږه له دواړو جهتونو څخه آرزو لرو چه د جهاد او ملت امانتونه د داسې خلکو نه قربان نکړي او دیوی اسلامي ادارې تشکیل لپاره عاجل اقدام وکړي.

پوښتنه: ځینو تنظیمونو د استاذ رباني له پلان سره مخالفت څرګند کړی تاسو د جماعة د موقف په باب څه ویلای شئ؟

ځواب: د استاذ برهان الدین رباني د پلان او حکومت مخالفت تر اوسه پوري یواسلامي مشراو یا د تنظیمونو نماینده ګانو نه دی کړی. استاذرباني چه کله کابل ته ورسیدو نو حضرت صاحب خپل واك جهادي او قیادي شورى ته وسپارلو چه وروسته دی دواړو شوراګانو د پیښور د لوظنامې په اساس استاذ رباني ته د څلورو میاشتو حکومت وسپارلو او څو ساعته وروسته پوهاند عبدالرب رسول«سیاف»د استاذ رباني د حکومت د ملاتړ اعلان وکړو او بیا نورو مشرانو هر چا په خپل وار د استاذ رباني د حکومت ستاینه وکړه او خپل ملاتړ یې ورسره اعلان کړ.

جماعة الدعوة الى القرآن والسنة (اهل حدیث) افغانستان یو پیاوړی او روښانه دریځ لري او د متحد او اسلامي افغانستان لپاره کوشش کوي او خپل ټول وسایل او امکانات د اتحاد او اتفاق د پاره په کار اچوي چه دغه هدف پرې سرته رسیدلی شي او هیڅکله به چاته ددې اجازه ورنکړي چه یوه لویشت خاوره له افغانستان څخه بیله او تجزیې آواز پورته کړي. هغو خلکو چه د هیواد په شمال اویا نورو سیمو کې د نورو په اشاره د تجزیې آواز پورته کړي، په حقیقت کې د افغانستان د مسلمان ملت د پیاوړتوب د ښمنان دي او انشاءالله چه هیڅکله به هم دې شوم هدف ته ونه رسیږي، داسې ډیرو خلکو خپل دا شوم او پوچ آرمانونه له ځان سره ګورته وړي دي، افغانان هیڅا ته د دې حق نه ورکوي چه د دوی په خاوره کې لاس وهنې وکړي.

والسلام

ستاسو پوښتنې د قرآن او حديث په رڼا کې

پوښتنه: ډير خلك دخپلي لور په واده کي په خپل ځوم داشرط ږدی چه دواده مراسم دی دښاديو په سالونونو او هالونو او کلبونو کی ترسره شی او په دی هکله له زيات اسراف نه کار اخلی، له تاسو نه آرزولرم چه پدی باره کی مونږ ته لارښوونه وکړئ.

ځواب: دا يو ښرگند حقيقت دی چه دځوانانو اوپيغلو دودونو د آسانتيا په خاطر دپيغمبر صلی الله عليه وسلم سنت دمهر، وليمی او نورو لگښتونو په لږوالی حکم کوی نودکورنيو مشرانو ته پکارده چه خلکو ته د آسانتياؤ په خاطر دولورونو په کمښت توصيه وکړی، تر څو ځوانان ودونو کولو ته وهڅول شی. په دی کی شك نشته چه د واده د هالونو اوسالونونو مصارف دښځی او خاوند دمشکلاتو پيتی درندوی. پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمائی:

«خيرالصداق ايسره وخيرهن اقلهن مؤنة» غوره اوبهتره مهر هغه دی چه لږ وی او نيکه ښځه هغه ده چه په لږ مصرف واده شوی وی. عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه ته ئی وفرمائل: **«اولم ولوبشاة»** وليمه وکړه ولو که په يوه پسه(گډ) وی. رسول الله صلی الله عليه وسلم چه کله زينب رضی الله عنها ودوله نو په وليمه کی ئی ډوډئ او غوښه ورکړه او خلکو ته ئی د وليمی د خوړلو بلنه ورکړه.

نو له پورتنيو آحاديثو نه په نکاح کی د وليمو مشروعيت ثابتيږی، خو مسلمان ته نه ښائی چه په دی ولائمو او ميلمستياگانو کی له داسی تکلف هسی اسراف او تبزير نه کار واخلي چه د خوراکونو زياته برخه يی ضايع او د فقيرانو په دردونه خوری او هغوی تری منع شی.

پوښتنه: د بوکس وهلو او آزادو پهلوانيو په هکله اسلام څه حکم کوی؟

ځواب: کومه بوکس بازی چه نن صبا ځمونږ د ملکونو په لوب غالبو کی ترسره کيږی، دا په اسلامی شريعت کی ناروا او حرامی لوبی دی. ځکه چه په دی کی دمسابقه کوونکو ترمنځ يو بل ته درد اوضرر رسونه مباح ده،ان تردی چه دا درد او ضرر کيدای شی دمسابقه کوونکی دړوندوالی گوډوالی او يا د کومی بلی عضوی د تلف کيدو سبب شی او کله هم دهغه دمرگ سبب گرځی. خو وار کوونکی د مسؤليت نه بری گڼلی کيږی. او نندارچيان دده په کاميابئ او دمقابل طرف په دردوونکی راپرزولو خوښی ښرگندوی او چك چکی

ورته کوی چه دا کار په اسلام کی په قطعی توګه حرام دی.

الله تعالی فرمائی:

«ولاتلقوا بايديكم الى التهلكه»

په خپل لاس خپل ځانونه په هلاکت کی مه غورځوی.

په بل ځای کی فرمائی: **«ولاتقتلوا انفسكم ان الله كان بكم رحيما»**

خپل ځانونه مه وژنئ بی شکه الله تعالی په تاسو ډیر مهربان دی.او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی: **«لاضرر ولاضرار»**

په اسلام کی نه ضرر رسونه شته او نه ضرر مننه.

او په همدی اساس ده چه شریعت پوهان وائی چه که یو چا خپله وینه (ژوند)بل ته وبښله او دځان په وژلو ئي ورته امر وکړ نو ده ته ئی وژل روانه دی او که وئی واژه نو دی مسئول او دعقاب مستحق دی.

دا بوکس بازی بدنی لوبه هم نه ده نو کول ئی روانه دی ځکه چه بدنی ورزش دصحتمندئ په خاطر کیږی نه د ضرر رسولو په منظور. نو لازمه ده چه دا رنګه لوبی په ملکی سطحه لغوه او په بین المللی سطحه ئی له ګډون نه اجتناب وشی.

او د آزادی پهلوانی حکم هم د بوکس بازی په شیر حرام دی ځکه په هغی کی هم ټول هغه ضررونه او شرعی معاذیر موجودی دی چه په بوکس بازی کی دی. لیکن نوری بدنی لوبی چه دصحتمندئ او غښتلتوب په خاطر ترسره کیږی اوپه هغی کی نورو یاځان ته ضرر او تکلیف رسونه نه وی شرعاً روا او جائز دی.

******

. زمونږ یو محترم ورور

عرب ګل«سلفی» د دعوت د مجلی کارکوونکو ته د سلامونو په ترڅ کی یو پوښتنه رالیږلی او داسی ئی لیکلی دی:

مونږ یوه پوښتنه درلیږو، که ممکنه وی غور ورباندی وکړئ او هغه داچه اثبات د فاتحه خلف الامام مونږ او ددعوت مجلی لوستونکوته له مستند دلیل سره ظاهره کړئ.

والسلام

ګران ورورعرب ګل سلفی صاحب!

سلامونو ته مو وعلیکم السلام ورحمت الله وبرکاته وایو.

د خط درالیږلو او ددعوت مجلی دخوښولو مو ډیره ډیره مننه.

ستاسی د پوښتنی په ځواب کی چه دفاتحه خلف الامام په هکله مو کړیده، د نبی کریم صلی الله علیه وسلم بی شمیره لاربښوونی او مستند دلایل موجود دی چه مونږ یی ستاسی د پوښتنی په ځواب کی څو ښکاره نمونی ستاسی د پوهی او خبرتیا لپاره نشرته سپارو.

عن عبادة بن الصامت رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لاصلوة لمن لم یقرأبفاتحة الکتاب.

عباده بن الصامت رضی الله عنه وایی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چه څوك فاتحة الکتاب یعنی الحمد لله په لمانځه کی ونه لولی دهغه لمونځ نشته یعنی لمونځ یی صحیح نه دی.

(رواه البخاری ص٤ج١، مسلم ج ١-ص١٦٩،ابوداؤد-ج١-ص١١٩، النسایی ج ١-ص ١٤٥، الترمذی ج٢-ص ٥٢)

عباده بن الصامت رضی الله عنه وایی چه مونږ دسهر په لمانځه کی په نبی کریم صلی الله علیه وسلم پسی ولاړ وو نو پر هغه قرئت ډیرگران شو، کله چه د لمانځه نه فارغ شو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: شاید چه تاسو په امام پسی ورروسته قرئت لولی؛(قرآن لولی؛)! مونږ ورته وویل چه هو! ای د الله تعالی رسوله! هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل چه داسی مه کوئ مگر فاتحة الکتاب لولئ، ځکه چه څوك سورة فاتحه په لمانځه کی ونه لولی نو لمونځ یی نه کیږی.

رواه ابوداؤد ص۱۱۹، بیهقی ص۴۳-٤٤،البخاری ص۷۹طبع لاهور-ص۱۱٤طبع گوجرانواله)

عن ابی هریرة رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال:

من صلی صلوة لم یقرء فیها بام-القرآن فهی خداج، ثلاثا غیر تمام فقیل لابی هریرة انانکون وراء الامام فقال: اقرأبها فی نفسه.

ابوهریره رضی الله عنه وایی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چا چه داسی لمونځ وکړ چه په هغه کی یی ام القرآن (الحمد لله) ونه لوستله،نو لمونځ یی ناقص دی. نبی کریم صلی الله علیه وسلم دری ځله داکلمات وفرمایل چه «پوره نه دی».

ابوهریره رضی الله عنه ته وویل شو چه که مونږ په امام پسی ولاړیونو هم؟ ابو هریره رضی الله عنه ورته وویل:چه هو! لولئ یی، مگر له ځان سره وروو ورو.

(رواه مسلم ج۱-ص۱٦۹)

عن انس رضی الله عنه ان النبی صلی الله علیه وسلم صلی باصحابه فلما قضا صلوته اقبل علیهم بوجهه قال اتقرؤن فی صلوتکم والامام یقرأ فسکتوا فقال قائل او قائلون: انا لنفعل قال فلا تفعلوا ولیقرأ احدکم بفاتحة الکتاب فی نفسه.

انس رضی الله عنه وایی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کراموته لمونځ ووکړ، کله چه له لمانځه څخه فارغ شو نو صحابه کرامو ته یی مخ کړ او ویی فرمایل:کله چه امام په لمانځه کی قرئت لولی نو تاسوهم پسی قرئت لولئ؟ نو یو یا ډیرو ورته وویل چه:هو!

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: چه داسی مه کوئ، یوازی سورة فاتحه له ځانه سره لولئ.

(رواه البخاری-ص۷۸-۷۹، - بیهقی ص ۵۸)

عن محمد بن ابی عایشة عن رجل من اصحاب النبی صلی الله علیه وسلم قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لعلکم تقرؤن والامام یقرء قالوا انا لنفعل قال فلاتفعلوا الاان یقرء احدکم بفاتحة الکتاب.

یو صحابی رضی الله عنه وایی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: شاید چه تاسو هم قرئت لولئ، کله چه امام قرئت لولی؟صحابه کرامو وویل: هو!رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: داسی مه کوئ، مگر که په تاسو کی څوك سورة فاتحه لولی.

(بیهقی ص-٦۱، البخاری ص۲۳، احمد)

له دی آحادیثو نه دا څرگندیږی چه په امام پسی سورة فاتحه ویل ضروری او واجب دی.

پرته له دی نه د صحابه کرامو آثار او د مجتهدینو او علماؤ بی شمیره اقوال هم موجود دی.

غیث الغمام ۱۵۶-۲۱۶ طبع گوجرانواله د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه او امام محمد رحمة الله علیه دوه قوله لیکی. په لومړی قول کی وایی چه سورة فاتحه لوستل په امام پسی په مقتدی واجب نه ده بلکه سنت هم نه ده. په دوهم قول کی وایی چه هغه لمونځونه چه خفیه اداءکیږی، احتیاط دادی چه ولوستل شی، لوستل یی ښه او مکروهه نه دی.

عبدالحی لکهنوی دشعرانی نه داقول نقل کړی چه عطاء وایی چه صحابه کرامو به په جهری او سری دواړو لمونځونو کی په مقتدی باندی سورة فاتحه لوستل جایز گڼل نو دا دواړه امامان د خپل لومړنی قول نه دوهم قول ته واؤښتل.

هدایة او مجتبی چه د مختصرالقدوری شرحه ده او همدارنگه نور ډیر کتابونه په سراحت سره دا وایی چه امام ابو حنیفه رحمة الله علیه او نورو ډیرو علماء کرامو داخبره خوښه کړی ده چه کله په جهری لمونځ کی امام خاموشی اختیاروی نو سورة فاتحه لوستل ښه دی او دا خبره استحساناً نا آشنا نه ده. او همدارنگه امام محمدرحمة الله علیه په سری لمونځونو کی د مقتدی لپاره سورة فاتحه لوستل ښه گڼی.

محقق ابن الهمام چه «دهدایی» شارح او د احنافو دده په محقق کیدو، محدث کیدو او مجتهد کیدو باندی اتفاق دی، دمختصر القدوری په حاشیه کی لیکی چه د«**لاصلوة الا**» تأویل دا دی چه سورة فاتحه په لمانځه کی ونه لوستل شی نو لمونځ کامل نه دی.

دبخاری شارح علامه عینی وایی چه زمونږ ځینی اصحاب په ټولو لمونځونو کی دسورة فاتحی لوستل د مقتدی لپاره احتیاطاً مستحسن گڼی او ځینی یی په سری لمونځونو کی مستحسن گڼی، چه دامسلك دحجاز او شام د فقهاؤدی.

نظام الملت شیخ عبدالرحیم چه په شیخ التسلیم باندی مشهورر او دحنفی مذهب مجتهد دی وایی: که چیری د قیامت په ورځ زما په خوله کی د انگار سکروټه وی، دا می خوښه ده او نه داچه راته وویل شی چه ستالمونځ نشته. شیخ التسلیم دی روایت ته د ضعیف او وضعی اشاره کړیده چه «څوك په امام پسی ورروسته سورة فاتحه ولولی نو دهغه په خوله کی به دقیامت په ورځ سکروټه وی».

(امام الکلام ٤٦)

شیخ عبدالقادر جیلانی وایی چه دسورة فاتحی ویل فرض اورکن دی، چه په پریښودلو یی لمونځ باطلیږی.

(غنیةالطالبین ص۱۰)

د پورتنیو حنفی فقهاؤ له نظریو څخه ډیره ښه جوته شوه چه ځینو هغو محقـقینو چه مخکی لدی دفاتحه خلف الامام مخالف وو نو کله چه یی دفاتحه خلف الامام آحادیث ولیدل نو ځینو د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه مذهب پریښود او ځینو ورته جایز وویل.

پوښتونکیه وروره! هیله ده چه ستاسی پوښتنی ته به مو تریوحده ځواب ویلی وی.

او پورتنی لاربښوونی به ستاسی او ستاسی غوندی دنورو ورونو دشکوکو په لمنځه وړلو کی موثر واقع شوی وی، هیله ده چه د استفادی وړ مو وگرځی.

(اداره)

دليكونو بهير

دعـــوت مجله

پوست بکس:٦١٤ – G.P.O-پشاور
پاکستان

دجلوزو دشپږم نمبر کیمپ څخه عبدالظاهر «ظهیر» وروړلیکی:

محترم ددعوت پښتو مجلی سر لیکوال او نورو کارمندانو ورونو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

له هر څه دمخه دشهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) پاك روح ته دزړه له کومی دعا کوم او بیا ددعوت پښتو مجلی په ترقیٔ تاسی ته مبارکی وړاندی کوم او د کفر ځپونکی او ځواکمن الله جل جلاله څخه یی دلازیاتی کامیابیٔ غوښتونکی یم .زه څو وړاندیزونه درلیږم هیله ده چه غور وریاندی وکړیٔ:

١- دعوت مجله باید دافغانستان دهرولایت تاریخی او جهادی واقعیات ذکر کړی.

٢-که ددعوت مجله غیر روحانی تصاویر نشر کړی نو ددعوت دمجلی ښکلا به نوره هم زیاته شی.

ستاسی دلازیاتی کامیابیٔ په هیله!

ستاسی ورور عبدالظاهر «ظهیر»

***

دضلع دیر – تیمرگری دجامعة سلفیه څخه کفایت الله «صدیقی» وروړلیکی:

محترم ددعوت پښتو مجلی مدیر او نورو کارکوونکو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

له مسنونه سلامونو او نیکو پیرزوینو څخه وروسته ددعوت د مجلی دنوری کامیابۍ دعاکوم.

ددعوت مجله مونږ ته ښه په وخت وخت رارسیږی، ډیر ښکلی او ښایسته زړه راښکونکی مضامین لری، له مطالعی څخه یی ډیره خوښی څرګندوو.

مونږ یوه مشوره درلیږو او هغه داچه په مجله کی د امام الجهاد او مفکراسلام شهیدشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) او خطیب ملت علامه احسان الهی ظهیر (رحمه الله)خطبات که نشر کوئ نو دابه ددعوت مجلی دلوستونکو لپاره ډیر ګټور تمام شی.

والسلام علیکم

کفایت الله «صدیقی» دجامعه سلفیهٔ تیمرګری متعلم

محترمو ددعوت پښتو مجلی لوستونکو!

ورونوسلامونو ته مو وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته وایو.

دلیکونو درالیږلو او ددعوت د مجلی دخوښولو مو ډیره ډیره مننه!

ورونو! زیاتره ورونه پخپلو لیکونو کی دشهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) دخطباتو دنشر په هکله لیکنی کوی، خو که دشهیدشیخ(رحمه الله) له شهادت څخه وروسته زمونږ ددعوت دپښتو مجلی هره ګڼه مطالعه کړئ دنوموړی یوه تاریخی خطبه به خامخا لمری، په هر صورت مونږ بیا هم کوښښ کوو چه ستاسی هره روا غوښتنه دامکان په صورت کی پوره کړو، ځکه ددعوت مجله ستاسی غوندی دګلو ورونو په وړاندیزونو او نیوکو دترقۍ په لور روانه ده. ستاسی دنورو لیکونو په انتظار!

(اداره)

ارشاد نبوی

بسم الله الرحمن الرحيم

عن ابي هريرة رضي الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: «كل امتي يدخلون الجنة الا من أبى» قيل: ومن أبى يا رسول الله؟ قال: «من اطاعني دخل الجنة ومن عصاني فقد أبى»

(رواه البخاري)

ترجمه: از ابوهريره رضي الله عنه روايت است كه رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمود: همه امتم به بهشت داخل مي شوند مگر كسي كه سرباز زند. گفتند چه كسي سر باز مي زند يا رسول الله؟ فرمود آنكه ازمن پيروي كند داخل بهشت ميگردد وآنكه نا فرماني مي كند به تحقيق سر باز زده است

اعـــلان

د دعوت د پښتو مجلې درنو او قدرمنو لوستونکو!

دا چه د افغانستان د جماعة الدعوة الى القرآن والسنة او د افغانستان د کنړونو د اسلامی امارت امیر امام الجهاد او مفکر اسلام شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) د شهادت یو کال پوره کیدونکی دی،   هر هفه ورور که دده د ژوند په باب څه معلومات لری، په لیکلی ډول یی مونږ ته راواستوئ او همدارنګه که د ده د ویناګانو کوم کیسټونه ستاسی په لاس کی موجود وی، مونږ ته یی راولیږئ البته د کیسټونو د رالیږلو سره خپلی پتی هم راولیږئ چه ستاسی امانت کیسټونه بیرته درولیږو.

زمونږ سره ستاسی ددي رنګه مرستي او همکاریٔ په هیله!

زمونږ ادرس (پته):

دعوت مجله:

پوست بکس نمبر 614-جی، پی، او- پشاور- صدر